# په سویډن کي د پښتو ژبي د زده کوونکو د پاره د لوست پنځم کتاب

# پنځم کتاب



ترتیب کوونکئ : عبدالعلي رسولزاده
۱/۸/ ۲۰۰۹

# تر پیل د مخه خبري

د پنځم ټولګي دغه کتاب د کار د هغه پلان سره برابر ترتیب سوئ دئ کوم چي د سویډن د هیواد د مالمو د ښار د پښتو ژبي د ښوونکو له خوا جوړ او ګټي اخیستلو ته چمتو سوئ دئ.

په دې کتاب کي که څه هم د عنوانونو شمېر زیات دئ خو دا به د دې معنی و نه لري چي زده کوونکي دي ټول کتاب د سره تر پایه و لولي. دا د زده کوونکو په کار پوري اړه لري ځکه چي ځیني زده کوونکي په پښتو کي ډېر زحمت باسي او ځیني لږ. هغه زده کوونکي چي ډېر زیار باسي هغوی کولای سي چي دغه ټول کتاب و لولي.

د دې کتاب په پیل کي چي مضامین او تمرینونه راغلي دي د پنځم ټولګي د هغي ازموینې سره برابر دي کوم چي د مالمو په ښار کي د پښتو ژبي د ښوونکو له خوا ترتیب سوئ دئ.

د کتاب په پیل کي فعل راغلئ دئ. مګر فعل د زماني له مخي د کتاب په پای کي د هغو زده کوونکو د پاره راغلئ دئ کوم چي زیات کار کوي او یا یې والدین غواړي چي زیات کار ور سره وکړي.

د کار په پلان (Arbetsplan) کي د کیسو او کیسیو په هکله هم خبري را غلي دي ځکه د کتاب په پای کي یو شمېر کیسي را غلي دي. ښوونکي کولای سي چي د کیسیو د پاره په [www.pashto.se](http://www.pashto.se) کي د کیسیو په برخه کي یو څو کیسۍ خوښي کي او د زده کوونکو سره کار پر و کړي. ښوونکي کولای سي چي د کیسو څخه کیسي خوښي کړي او زده کوونکي یې په کور کي یوه کیسه و لولي او بیا چي کله ټولګي ته را سي هغه دي په خپله ژبه بیان کړي. همدا ډول د پنځم ټولګي په ازموینه کي باید زده کوونکي د رسمونو په اړه هم خپل نظر و لیکي. د دې د پاره چي زده کوونکي د دې کار سره نابلده نه وي ځکه نو د کتاب په پای کي د رسمونو شرحه کول هم را غلي دي.

هغه ګران هیوادوال چي د دې کتاب څخه تر سویډن د باندي ګټه اخلي کولای سي چي جملې د خپل اړونده هیواد ژبي ته ترجمه کي.

نور نو که په زړه پوري ښوونکي او والدین کوم نظر لري لطفا دي زما سره اړیکي و نیسي.

Ali Rasulzada
alirasulzada@hotmai.com
0709-384755

# کتـــاب

کتاب هغه ملګرئ دئ چي هیڅکله څوک نه ترې خپه کیږي. له کتاب سره دوستي د انسان پوهه او عزت زیاتوي.

کتاب بې ارزښته مه ګڼئ، د کتاب په لیکلو ډېره خواري شوې وي. د کتاب هر ټکئ او لیکه (کرښه) نوې نوې خزانه ده. کتاب و لولئ، زده یې کړئ او مینه ور سره ولرئ.

یوه ورځ ملالۍ خپلي مور ته و ویل، "موري، کتاب مي راکړه. مور یې کتاب ور ته را واخیست". ملالۍ و ویل، "دا کتاب نه غواړم، هغه بل کتاب راکړه".

مور یې ورته و ویل: "دا خو کتاب نه دئ، دا کتابچه ده څکه چي تا خط پکښې لیکلئ دئ. کتاب هغه ته وایي چي یو چا پخوا لیکلئ وي او چاپ شوئ وي.

قران شریف د خدای (ج) کتاب دئ. په دغه کتاب کي خدای (ج) خپلو بنده ګانو ته لار ښودنه کړې ده.

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| بې ارزښته | بې قدره | خزانه | ډېري پیسې |
| ګڼل | بلل | | |
| مینه | ګرانښت، محبت | | |

تمرین: د لاندي لغاتوڅخه جملې جوړي کړئ:

مثال:

ملګری

جواب: احمد زما ملګری دی.

۱ ـ کتاب ________________________________________________

۲ ـ مور ________________________________________________

۳ ـ بې ارزښته ____________________________________________

٤ ـ مینه ________________________________________________

٥ ـ خزانه _______________________________________________

د کتاب په باره کي لږ تر لږه دوې لیکي و لیکئ:

________________________________________________________________

________________________________________________________________

________________________________________________________________

________________________________________________________________

د خدای(ج) د کتاب نوم څه شی دئ؟ و يې ليکئ ____________

# هــــوا

هوا د هر انسان او هر ساکښ د پاره ضروري ده. په هوا سره انسانان، حیوانات او نباتات (شنه) ژوندي دي.

که هوا نه وای هیڅ چا به هم ژوند نه وای کړئ. هوا چي څومره پاکه وي هغومره د انسان روغتیا پکښي ښه وي. په ناپاکه هوا کښي انسان څه چي وني لا هم ناروغه کیږي.

په ښارو کښي چي فابریکې او موټرونه ډېر وي هوا یې خرابه وي، ځکه نو ډېر خلک په کلیو کښي ژوند کوي، چي هلته هوا دومره خرابه نه وي.

کله چي ښوونکي دغه لوست په ټولګي کي زده کوونکو ته و لوست اسد پوښتنه و کړه، " فابریکې او موټرونه چي دومره تاوان لري څه چاره کولای شو چي هوا مو را خرابه نه کړي".

ښوونکي ورته و ویل، " د فابریکو او موټرونو دود باید کنټرول کړو چي ضرر رسوونکي غازونه را و نه باسي او چي ډېره اړتیا و نه لرو د موټر څخه کار وا نه خلو".

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ساکښ | ساکښونکئ، ژوندی | توکي | شیان، مواد |
| دومره | دونه | | |

| |
|---|
| تمرین: د لاندي جملو خالي ځایونه ډک کئ: |
| مثال: هوا د هر <u>ساکښ</u> د پاره ضروري ده.<br>لړګی<br><u>ساکښ</u><br>بریښنا |
| ۱ـ هوا د هر انسان او هر ساکښ د پاره ___________ ده.<br>کالي<br>مړ<br>ضروري |
| ۲ـ که هوا نه وای هیڅ چا به _______ نه وای کړئ.<br>موټر<br>ژوند<br>ښوونکئ |
| ۳ـ هوا چي څومره پاکه وي هغومره د انسان_________ پکښي ښه وي.<br>روغتیا<br>کالي<br>ګاډی |
| ٤ـ په ښارو کي موټرونه او _________ هوا خرابوي.<br>کورونه<br>فابریکې<br>لمر |
| ٥ـ د ښارو د هوا د خرابۍ په سبب خلک په _______ کي ژوند کوي.<br>کلیو<br>کورو<br>دوکانو |

# کـــار

کار انسانانو ته ګټه رسوي . کار که د یوې خوا د سړي د ژوندانه اړتیاوې ور برابروي د بلې خوا انسان په حرکت راولي او بدن ته یې ګټه رسوي . په اسلام کښې کار ډېر ستایل شوئ دئ . پیغمبرانو ټولو کارکړئ دئ .

حضرت محمد (ص) د کور او بهر کار پخپله کاوه . کوم کار چې به یې پخپله کولای شو په بل چا به یې نه کاوه ، د دین او دنیا کارونه یې دواړه کول . کار کول په اسلام کې سنت دي .

موږ ته لازمه ده چې کار وکړو چې هم مو ژوند ښه شي او هم د نبي (ص) سنت پر ځای کړو .

حضرت محمد (ص) وایي : " کار کول او خپلې کورنۍ ته حلاله نفقه پیدا کول ډېر ثواب لري ".

---

لغاتونه :

| | | | |
|---|---|---|---|
| اړتیا | ضرورت | نفقه | خواړه |
| ستایل | صفت کول | بهر | د باندي ، بیرون |
| سنت | هغه څه چې پیغمبر (ص) کړي دي | | |

تمرين: د کار دوې ګټې و ليکئ!

۱ـ ______________________________________________

۲ـ ______________________________________________

لاندي لغاتونه په جملو کي استعمال کئ:

۱ـ ګټه ___________________________________________

۲ـ اړتيا __________________________________________

۳ـ نفقه ___________________________________________

٤ـ ستايل __________________________________________

د لاندي جملو خالي ځايونه د پورتني لوست سره سم ډک کړئ:

کار انسانانو ته ____________ رسوي.

خپلي کورنۍ ته ______________ نفقه پيدا کول _________ لري.

حضرت محمد (ص) د ___________ او _________ کار په خپله کاوه.

په اسلام کي کار ډېر ____________ شوئ دئ.

_______________ ټولو کار کړئ دئ.

حضرت محمد (ص) د _________ او _________ کارونه دواړه کول.

# څلور خواوي

کله کله اړتیا لرو چي خپلي څلور خواوي و پېژنو. کله چي سفر کوو باید و پوهیږو هغه ځای چي موږ ور ځو کومي خوا ته پروت دئ.

د لمانځه د ادا کولو په وخت کي باید و پوهیږو چي قبله کومي خوا ته ده؟

د څلورو خواوو نومونه داسي دي:

۱ ـ شرق یا مشرق (ختیځ)
۲ ـ غرب یا مغرب (لوېدیځ)
۳ ـ شمال
٤ ـ جنوب

څلور خواوي دا ډول معلوموو:

لومړی ګورو چي لمر د کومي خوا څخه را خیژي. راسته (ښی) لاس مو هغي خوا ته و نیسئ، ښی لاس مو د شرق (ختیځ) خوا ته دئ. چپه (کیڼ) لاس مو غرب (لوېدیځ) ته، مخ مو شمال او شا مو جنوب خوا ته دي.

شمال



غرب (لوېدیځ) شرق (ختیځ)

جنوب

د لمانځه د ادا کولو په وخت کي که سړی نه پوهیږي چي قبله (مکه) یا کعبه کومي خوا ته ده. د دې کار د پاره باید لومړی و پوهیږو چي موږ چیري یو. وروسته نو بیا فکر و کړو چي سعودي عربستان کومي خوا ته پروت دئ. اوس چي مو د سعودي عربستان خوا پیدا کړه هغې خوا ته لمونځ کوو.

تمرین:

۱ـ پوښتنه: د شرق یا مشرق بل نوم څه شی دئ؟ ___________________

۲ـ پوښتنه: د غرب یا مغرب بل نوم څه شی دئ؟ ___________________

۳ـ پوښتنه: شرق یا مشرق څرنګه پیدا کوو؟

________________________________________________________________

________________________________________________________________

٤ـ کله چي مو شرق پیدا کړ اوس ولیکئ چي شمال کومي خوا ته دئ؟

________________________________________________________________

٥ـ د لمانځه د ادا کولو په وخت کي مخ کومي خوا ته کوو؟

________________________________________________________________

________________________________________________________________

# جغرافيه

جغرافيه د ځمکي او هيوادو په باره کي خبري کوي. کله چي موږ د افغانستان، سويډن او يا کوم بل هيواد د ځمکي، غرو، رودو، پيدا وارو او ښارونو په باره کي خبري کوو نو موږ د هغه هيواد د جغرافيې په باره کي خبري کوو. دلته لاندي به لوموړی د افغانستان او بيا د سويډن د جغرافيې په باره کي خبري و کړو.

## د افغانستان جغرافيه

زموږ ګران هيواد افغانستان يو ډېر پخوانی هيواد دئ. دا هيواد د اسيا په لويه وچه کي پروت دئ. افغانستان يو غرنی هيواد دئ.

### د افغانستان ګاونډي هيوادونه لکه:

شرق او جنوب ته يې د پاکستان اسلامي جمهوريت پروت دئ.
شمال خوا ته يې د تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان هيوادونه پراته دي.
غرب ته يې د ايران اسلامي جمهوريت پروت دئ.
په شرق کي يو څو کيلو متره د چين سره هم سرحد لري. د دي هيواد پخواني خلک د آريايانو په نامه يادېدل. پايتخت يې د کابل ښار دئ.
افغانستان څلور دېرش ٣٤ ولايتونه لري. پيسه يې افغانۍ نوميږي. يوه افغانۍ ١٠٠ پوله ده.

تمرین: لاندي پوښتني ته جواب و لیکئ!

۱ـ جغرافیه څه ته وایي و یې لیکئ!

_______________________________________________________________

_______________________________________________________________

۲ـ لاندي جملې و لولئ، هره جمله چي صحیح وي تر څنګ یې (ص) او چي غلطه وي تر څنګ یې (غ) و لیکئ:

جغرافیه د یوه هیواد د رودو په باره کي معلومات را کوي __________

جغرافیه د یوه هیواد د موټرانو په باره کي معلومات را کوي __________

جغرافیه د یوه هیواد د غرو په باره کي معلومات را کوي __________

جغرافیه د یوه هیواد د ښوونکو په باره کي معلومات را کوي __________

افغانستان ۲۵ ولایتونه لري __________

افغانستان د چین سره هم سرحد لري __________

د افغانستان پایتخت کابل نومیږي __________

آریایان د افغانستان پخواني خلک وه __________

د افغانستان مشهور ولایتونه دا دي لکه:

۱ ـ کابل
۲ ـ کندهار
۳ ـ بلخ (مزار شریف)
٤ ـ هرات
٥ ـ پکتیا
٦ ـ ننگرهار
۷ ـ کنړ
۸ ـ بدخشان
۹ ـ غزنی



زموږ په ګران هیواد کې ډېر غرونه سته چې يو څو يې دلته لاندي ليكل سوي دي لكه:

| ١ ـ د هندوكش غرونه: | ٢ ـ د بابا غر: | ٣ ـ سپين غر: |
| --- | --- | --- |
| دا غرونه د هيواد د شرق څخه د غرب و خوا ته اوږده پراته دي. | دا غر د افغانستان په منځ كي پروت دئ. | دا غر د كابل تر رود لاندي پيدا كولاى سئ. |




د غرو ګټې: په ځمكي كي پر غرو باندي واوري اوري. په پسرلي كي هغه واوري ويلي كيږي. په اوبو يې مځكي اوبوي او برېښنا ور څخه پيدا كوئ.

د افغانستان لوی رودونه: افغانستان ډېر رودونه لري چي د یو څو لویو رودونو نمونه یې لاندي لیکل سوي دي او د دمخنۍ پاڼي په نقشه کي یې لیدلای سئ:

### ۱ ـ د آمو رود:

دا رود د افغانستان په شمال کي زموږ د هیواد، تاجکستان او ازبکستان تر منځ سرحد جوړوي.

### ۲ ـ د هلمند رود:

دا رود د افغانستان د منځنیو غرو څخه شروع کیږي، او په هلمند ولایت کي تیریږي. په هلمند کي یې یو لوی بند ورته جوړ کړئ دئ. دغه بند دوې ګټې لري.

۱ ـ د مځکو د اوبولو د پاره اوبه ذخیره کوي.
۲ ـ د اوبو د قوې څخه یې بریښنا (برق) په لاس را وړي.

### ۳ ـ د ارغنداو رود:

دا رود هم د منځني افغانستان د غرو څخه را شروع کیږي. په کندهار کي یې یو بند ور ته جوړ کړئ دئ. د بند د اوبو څخه هم مځکې اوبه کوي او هم بریښنا (برق) په لاس را وړي.

تمرین: د لاندي جملو خالي ځایونه په در کړه سوو کلمو سره ډک کړئ!

| | |
|---|---|
| ۱ ـ غرونه افغانستان ته ___________ لري | ګټه<br>رڼا<br>بوټونه |
| ۲ ـ ___________ د افغانستان پایتخت دئ | پکتیا<br>کابل<br>کندهار |
| ۳ ـ ___________ د افغانستان ګاونډی دئ | سویډن<br>جرمني<br>ایران |
| ٤ ـ د ___________ د افغانستان په شمال کي بهیږي | آمو رود<br>هلمند رود<br>ارغنداو رود |
| ٥ ـ رودونه افغانستان ته ___________ ګټه لري | سړک<br>ډېره<br>موټر |
| ٦ ـ د رود د اوبو څخه ___________ په لاس را وړو | بریښنا(برق)<br>کتابونه<br>خلک |

د افغانستان پیدا وار: د افغانستان پیداوار په لاندي ډول دي:
۱ ـ مېوې لکه:

| تازه مېوه | وچه مېوه |
| --- | --- |
| انګور (تاک) | کشمش یا ممیز (وچ انګور دي) |
| انار (ونه، درخته) | بادام (ونه لري) |
| هندوانې (جړنګ) | وچ توت |
| خټکي (جړنګ) | |
| شفتالو (ونه، درخته) | |
| زردالو (ونه، درخته) | |

۲ ـ معدنونه: معدن په غره یا مځکه کي وي لکه:
مس: د مسو څخه دېګونه، د برېښنا سیمان، د تعمیرونو سرونه او نور شیان جوړوي.
طبعي غاز: د خوړو د پخولو او کورو د تودولو د پاره په کار لویږي.
معدني ډبري (تیږي): د کان یا معدن څخه را باسي لکه:
یاقوت: په ګېڼو (امېلو، والیګانو، ګوتو یا انګشتریو او نورو شیانو) کي په کار لویږي.
لاجورد: په ګېڼو (امېلو، والیګانو، ګوتو یا انګشتریو او نورو شیانو) کي په کار اچوي.

۳ ـ غالۍ (قالیني)
پوستینچې: د پسه د پوستکي څخه صدریاني (واسکټونه) جوړوي.
د قرقلي پوستکي: دا د قرقلي د وریانو پوستکي دي چي بیا خولۍ او بالاپوښونه ځیني جوړوي.

تمرين: لاندي جملې و لولئ، که جمله غلطه وي (غ) او که صحيح وي (ص) ور ته و ليکئ!

۱ـ انګور د افغانستان پيدا وار دي. ___________

۲ـ په افغانستان کي انار نه پيدا کيږي. ___________

۳ـ په افغانستان کي خلک غالۍ جوړوي ___________

٤ـ بادام جړنګ لري ___________

٥ـ د قرقلي پوستکي د قرقلي د وريانو څخه لاسته راځي. ___________

و ليکئ چي د ياقوت او لاجورد څخه کوم شيان جوړوي:

_____________________________________________

_____________________________________________

طبعي غاز د څه شي د پاره په کار اچوي؟

_____________________________________________

_____________________________________________

_____________________________________________

_____________________________________________

# فـــعل Verb

فعل چي په سويډني يې verb بولي ديوه کار کول ښکاره کوي لکه : ځم، خورو، ليکې، راوړئ ، ګوري، خاندي او داسي نور . په لاندي جملو کي تر فعل لاندي خط کش سوئ دئ و يې لولئ .

احمد زموږ کور ته راځي .
تاسي ښوونځي ته راغلاست .
سدو ملالۍ ته و ويل .
دوی ډوډۍ خوري .
موږ به کابل ته ولاړ سو .

تمرين : په لاندي جملو کي فعلونه پيدا کړئ او تر هر فعل لاندي خط کش کئ !
دوی سويډن ته راغلي دي .
موږ سبا مېلې ته ځو .
سدو او ملالۍ کالي را وړي وه .
سپوږمۍ ليک و ليکئ .

اوس نو په خپله شپږ فعلونه پيدا کړئ !

______________ ______________ ______________

______________ ______________ ______________

د فعل څخه وخت هم معلومېږي د کتاب په پای کي يې و لولئ .

تمرین: لاندې کیسه و لولئ ، فعلونه پکښې پیدا کئ او و یې لیکئ!

رنها و ویل ، " توتي غوږ ونیسه.

ما ته غوږ و نیسه. دا زده کړه ، توتي موږ دی".

توتي و ویل ،" توتي موږ دی".

ملالۍ د رنها کور ته ولاړه. رنها ملالۍ ته وویل ،

" زما توتي ته غوږ ونیسه. توتي ، دانه خوري"؟

توتي وویل ،"توتي موږ دی".

رنها وویل ، " توتي اوبه څښي"؟

توتي وویل ،"توتي موږ دی".

______________________________________________________________

______________________________________________________________

______________________________________________________________

______________________________________________________________

______________________________________________________________

______________________________________________________________

______________________________________________________________

# ملګري ملتونه FN

په دې وروستۍ پېړۍ کې په نړۍ کې دوه ځله نړۍ والي جګړې سوي دي . پدې جنګو کې نژدې د نړۍ ټولو هیوادو ګډون درلود .

لومړۍ نړۍ واله جګړه په ۱۹۱٤ عیسوي کال کې پیل سو . دا جګړه په ۱۹۱۹ عیسوي کال کې پای ته و رسېده .



د ملګرو ملتو دفتر

دوهم نړۍ وال جنګ په ۱۹۳۹ عیسوي کال کې پیل سو . دا جنګ په ۱۹٤٥ کال کې پای ته ورسېد. دا جنګونه په اروپا کې پیل سوه .

د دوهم نړوال جنګ د پای ته رسېدو سره یو ځای داسي فکرونه را پورته سوه چې یوه نوې ټولنه باید منځ ته راسي . دا ټولنه به د نړۍ هیوادونه یو د بله سره نژدې کړي او بیا به جنګ نه سره کوي .

د ملګرو ملتو نښان

دغه ټولنه د ملګرو ملتو په نامه یاده سوه . د ملګرو ملتو د ټولني (سازمان) د جوړېدو په وخت کې یو پنځوس (٥١) هیوادونو ګډون درلود .

د ملګرو ملتو دفتر د امریکا د نیویارک په ښار کې پروت دئ . د دې دفتر اوسنی مشر بانکیمون دئ .

---

لغاتونه :

| | | | |
|---|---|---|---|
| دفتر | د کار ځای | سازمان | خلک سره یو ځای کېدل |
| نړۍ | دنیا | نړۍوال | د ټولي دنیا |

**تمرين :**

لاندي پوښتني و لولئ او جواب ور ته و واياست!

۱ ـ په نړۍ کي څو ځله نړۍ وال جنګونه سوي دي ؟

______________________________________________________________

۲ ـ لومړی نړۍ وال جنګ په کومو کلو کي وو ؟

______________________________________________________________

۳ ـ دوهم نړۍ وال جنګ په کومو کلو کي وو ؟

______________________________________________________________

٤ ـ ملګري کله جوړ سوه ؟

______________________________________________________________

٥ ـ د ملګرو ملتو د جوړېدو په وخت کي څو هيوادونه سره يو ځای سوه .

______________________________________________________________

٦ ـ ملګري ملتونه د څه د پاره جوړ سوه ؟

د دې د پاره چي______________________________________________

۷ ـ آيا تاسي فکر کوئ چي ملګري ملتونه په رشتيا هغه څه چي وايي هغه کوي ؟

______________________________________________________________

______________________________________________________________

# ښوونځی

ښوونځی د زده کړې ځای دئ. موږ هره ورځ پر وخت ښوونځي ته ځو، هلته لوست وایو او لیک زده کوو. په تفریح کې لوبې کوو.

ښوونځی زموږ د کور په شان دئ او د کور په شان یې پاک ساتو. د ونو ښاخونه یې نه ماتوو او د ګلانو بوټې یې نه خرابوو.

له همزولو سره مینه لرو. یو له بل سره جنګ او جګړه نه کوو. د ښوونکو خبرو ته غوږ نیسو او په لوستونو کې زیار باسو.

د ښوونځي د قوانینو مراعات کوو. کوښښ کوو چې سیښې یې ماتې نه کړو.

په خپل شوق مکتب ته ځمه
د مکتب یم زده کوونکئ
چې له خپلو همزولانو
په تعلیم کې پاتې نه شم

هم کوښښ او زیار کومه
هم به پوه شم هم لیکونکئ
او له نورو همصنفیانو
او له هر چا څخه ښه شم

(کشککي)

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ښوونځی | مکتب | زیار | کوښښ |
| لوست | درس، سبق | تعلیم | زده کړه |
| مینه | ګرانښت | | |

تمرین: لاندي جملې په سویډني ژبه ترجمه کړئ!

۱ـ ښوونځی د زده کړي ځای دئ.

---

۲ـ موږ هره ورځ پر وخت ښوونځي ته ځو.

---

۳ـ موږ په ښوونځي کي کتاب لولو او لیک زده کوو.

---

٤ـ کله چي تفریح وي لوبي کوو.

---

۵ـ ښوونځي زموږ د کور په شان دئ.

---

٦ـ موږ خپل ښوونځی پاک ساتو.

---

۷ـ د نورو زده کوونکو سره مینه لرو.

---

د ښوونځي شعر په لوړ اواز و لولئ!

# اسم (نوم) Substantiv

اسم د شيانو نوم دئ لکه : کور ، قلم ، ورور ، کتاب ، خط ، پلار ، کابل ، سويډن او نور . په لاندي جملو کي تر اسم لاندي خط کش سوئ دئ و يې لولئ .

- مورې موټر نه لرو .
- دوی کتاب لولي .
- د احمد خور راغله .
- د چا قلم مات سو ؟

لاندي جملې و لولئ هر چيري چي اسم وينئ خط تر لاندي کش کړئ !

- مورې د ښونځي څخه راغلو .
- تا په چاړه غوښې پرې کړې .
- راډيو ماته سوه .
- ښوونکي زده کوونکو ته لوست ور کوي .
- زه به ستا څخه خپل تليفون واخلم .

زده کوونکي دي پخپله داسي پنځه اسمونه و ليکي چي دلته نه وي را غلي!

_____________ _____________ _____________ _____________

اسم یا مفرد (یو) یا جمع وي لکه:

| جمع | مفرد |
| --- | --- |
| قلمان | قلم |
| کتابونه | کتاب |
| ښوونکي | ښوونکئ |
| کاغذونه | کاغذ |

تمرین: دلته لاندي څو جملې در کول سوي دي. لومړی اسمونه پکښې پیدا کئ او بیا يې جمعي جوړي کئ!

- د هغه هلک په ښوونځي کي یوه نجلۍ سبق وايي.
- د هغې خور خپل کالي راوړه.
- د نجلۍ ورور او پلار د ښار څخه راغله.
- دوی په دکان کي راډیو رانیول (واخیستل).

| جمع | مفرد | جمع | مفرد |
| --- | --- | --- | --- |
| ___________ | ___________ | ___________ | ___________ |
| ___________ | ___________ | ___________ | ___________ |
| ___________ | ___________ | ___________ | ___________ |
| ___________ | ___________ | ___________ | ___________ |
| ___________ | ___________ | ___________ | ___________ |

# څو پښتو متلونه

متل د یوې پېښې لنډ بیان دئ. چیري چي یو څه پېښ سوي وي د هغې پېښې لنډ بیا ته متل ویل کیږي.

۱ ـ خپله ژبه هم کلا ده هم بلا.
۲ ـ چي څه کرې هغه به رېبې.
۳ ـ خپل عمل د لاري مل.
٤ ـ ژرنده که د پلار ده هم په وار ده.
٥ ـ چي اوسې په خوی به د هغو سې.
٦ ـ په یوه ګل نه پسرلی کیږي.
٧ ـ له یوه لاسه ټک نه خیجي.
٨ ـ مار ته په لستوني کي ځای مه ورکوئ.
٩ ـ پوره ورک دي کړه دوه کوره.
١٠ ـ غل په غره کي نه ځاییږي.
١١ـ لویان په کور کي وایي، کوچنیان پر ببیان.

---

پورتني متلونه په یاد کړئ!

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| کلا | لوی دېوال | رېبې | پرې کوې |
| عمل | کړه، څه چي سړی کوي | مل | ملګری |
| وار | نوبت | | |

تمرین: لاندي متلونه څه معنا لري، په خپله ژبه يې و ليکئ!

۱ ـ ژرنده که د پلار ده هم په وار ده: ______________________________

________________________________________________________________

۲ ـ لويان يې په کور کي وايي، کوچنيان يې پر بېبان: ________________

________________________________________________________________

هغه لغاتونه چي يو د بل ضد معنا و لري د يوه خط په واسطه يې سره و منښلوئ!

| | |
|---|---|
| سپين | مسکين |
| ورځ | ټيټ |
| ښه | سم، سيده |
| جګ | آزاد |
| کوږ | ژوندی |
| زوړ | شپه |
| مړ | بد |
| بندي | تور |
| خان | نوئ |

# احتـــرام

احترام د نورو انسانانو قدر او عزت کولو ته وايي. سړی بايد تر هر څه دمخه د خپل مور او پلار احترام و کړي. د هغو خبرو ته غوږ و نيسي. مور او پلار خپلو اولادو ته د ژوند سمه لار ور ښيي.

ښوونکئ (معلم) هم که نر وي که ښځه د مور او پلار په ډول د احترام وړ دئ. ځکه چي ښوونکئ هم کوچنيانو ته د ژوند ښې لاري ور ښيي.

د ټولو هغو خلکو چي تر تاسي مشران دي احترام و کړئ. د اسلام پيغمبر حضرت محمد (ص) هيڅ وخت په لار کي تر مشرانو نه د مخه کېدئ. دا موږ ته هم را ښيي کله چي د مور او پلار سره چيرته ځو هيڅ وخت تر هغو د مخه ولاړ نه سو.

د ښوونځي د قوانينو احترام کول ډېر مهم کار دئ.

نور څه چي سړی يې بايد احترام و کړي هغه د نورو خلکو کلتور او ژبه ده. هيڅ کله بايد د نورو خلکو پر کاليو او ژبه و نه خاندو. فکر به و کړو که څوک زموږ پر کاليو او ژبه و خاندي نو څومره به خواشيني سو. پدې ډول بايد کوښښ و کړو چي نور خلک خپه نه کړو.

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| احترام | قدر، عزت | خواشيني | خوابدي، خپه |
| کلتور | د ژوندانه لاري او کارونه | ارزش | ګټه، فايده |
| | | قوانين | قانونونه، چي سړي ته د |

ځينو کارو اجازه ور کوي او د ځينو کارو اجازه نه ور کوي.

تمرین: د لاندي جملو خالي ځایونه په در کړه سوو کلمو ډک کړئ!

| |
|---|
| ۱ـ د مور او پلار ___________ باید وکړو.<br>کالي<br>احترام<br>کوښښ |
| ۲ـ د ___________ احترام هم باید د مور او پلار په ډول و کړو.<br>ښوونکي<br>کلتور<br>حیواناتو |
| ۳ـ حضرت محمد (ص) پر لاري د ___________ تر مخه نه تئ.<br>هلکانو<br>نجونو<br>مشرانو |
| ٤ـ د ښوونځي د ___________ احترام ډېر مهم کار دئ.<br>احترام<br>قوانینو<br>چوکیو |
| ٥ـ د نورو خلکو پر ___________ او ژبه باید و نه خاندو.<br>کلتور<br>ژبـــه<br>هـــوا |
| ٦ـ که څوک زموږ پر ___________ او ژبه و خاندي خپه کیږو.<br>کالیو<br>مېز<br>تاریخ |

# صــفت Adjektiv

صفت په یوه جمله کي پر اسم (نوم) باندي تاثیر کوي لکه: سور ، جګ ، لوی ، پاک ، خان ، مسکین ، ټیټ ، ظالم او نور. صفت تر اسم (نوم) د مخه راځي لکه:

سور قلم     جګ سړی     لوی ښار     پاک ښوونځی     خان سړی

تمرین: په لاندي جملو کي صفتونه پیدا کړئ او یو خط تر لاندي کش کړئ!

موږ یو زوړ کور لرو.

دوی پاسته لاسونه لري.

تاسي یو ښه کتاب واخیست.

احمد ستا خراب موټر راووست.

زده کوونکي دي په خپله دري داسي صفتونه پیدا کړي چي لوړ نه وي لیکل سوي او و دي لیکي!

_______________     _______________     _______________

تمرین: په لاندي جملو کي صفتونه پیدا کئ او بیا یې پر در کړه سوو خطو و لیکئ!

زده کوونکو خپل نوي کتابونه راوړل.

د سدو پلار سدو ته یو زوړ موټر ور واخیست.

تاسي په هغه ګران کور کي اوسېږئ.

دوی د کابل څخه په یوه ارزانه سرویس کي را غله.

احمد خپل سور بکس را وړ.

نجوني تر اوسه پوري په هغه پخواني ښوونځي کي دي.

____________________________________________________________

____________________________________________________________

____________________________________________________________

____________________________________________________________

____________________________________________________________

____________________________________________________________

____________________________________________________________

____________________________________________________________

# د اروپا اتحادیه EU

لومړی او دوهم نړی وال جنګونه دواړه د اروپا څخه شروع سوه . په دواړو جنګو کي د اروپا ډېر انسانان مړه سوه . ډېري خرابۍ پیښي سوې .

انسانانو د یوې ارامي او بې جنګه اروپا فکرونه د ډېره وخته په سرونو کي درلوده .

په ۱۹۵۲ عیسوي کال کي اروپایان سره را ټول سوه او یوه اتحادیه یې جوړه کړه .

د اتحادیې لومړي غړي هیوادونه بلجیم ، فرانسه ، ایټالیه ، لکسمبرګ ، هالنډ او جرمني وه . د اتحادیې موافقه دلته لاندي و لولئ :

١ ـ اروپایي هیوادونه به بیا جنګ نه کوي .
٢ ـ غړي هیوادونه به یو د بله اقتصادي مرستي سره کوي .
٣ ـ د کرهنې په برخه کي به همکاري سره کوي .
٤ ـ په ګډه (ټولو) به تجارت (سوداګري) سره کوي .

په کراره کراره د اروپا نور هیوادونه هم په دې اتحادیه کي ور ګډ سوه . اوس په ۲۰۰۹ عیسوي کال کي د دغه اتحادیې غړي هیوادونه ۲۷ دي .

---

لغاتونه :

| | | | |
|---|---|---|---|
| اتحادیه | په ګډه کار سره کول | نړی وال | چي په ټوله دنیا کي وي |
| غړی | یو نفر | موافق | په ټولو منل |

تمرین: پورتنی لوست و وایاست او لاندي پوښتنو ته جواب و لیکئ!

۱ـ په نړۍ کي څو نړۍ وال جنګونه سوي دي؟

په نړۍ کي ــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ

۲ـ په اروپا کي ولي د خلکو سره د اتحادیې د جوړولو فکر وو؟

څکه چي ــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ

۳ـ په ۱۹۵۲ عیسوي کال کي د اروپا کومو لومړیو هیوادو اتحادیه جوړه کړه؟

ــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ

ــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ

۴ـ د اروپا د اتحادیې موافقه کوم شیان وه؟

ــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ

ــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ

ــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ

ــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ

۵ـ د اروپا په اتحادیه کي اوس څو هیوادونه ګډون لري؟

ــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ

# ضمـــیر Pronomen

ضمیر یوه کلمه ده چي د اسم یا نوم پر ځای را ځي. کله چي موږ د یو چا سره خبري کوو او د هغه نوم (احمد) وي نو هر وار نه ورته وایو چي احمد. ورته وایو (ته) دغه د ته کلمه چي د احمد د نوم پر ځای وایو د ضمیر په نامه یادیږي. نور ضمیرونه لکه:

| | |
|---|---|
| زه ، ما | زما |
| موږ | زموږ |
| ته ، تا | ستا |
| تاسي | ستاسي |
| دی ، ده | د ده |
| دا ، دې | د دې |
| دوی | د دوی |

تمرین: په لاندي جملو کي ضمیرونه پیدا کړئ او یو خط تر لاندي و لیکئ!

زه کور ته ځم.

تاسي ښوونځي ته ولاړاست.

تمرين : په لاندي جملو کي ضميرونه پيدا کئ او پر در کړه سوو خطو يې و ليکئ !

احمد چي دوی و ليدل ډېر خوشاله سو .

موږ چي د کابل څخه را غلو ملالۍ تللې وه .

تاسي ولي ښوونځي ته نه واست تللي ؟

شينګل کار ته نه وو تللئ ځکه چي دی ناروغه وو .

تاسي چي لوست و وايه ويده سواست .

زه به تاسي ته پيسې در کړم .

___________

___________

___________

___________

___________

___________

___________

___________

___________

# آريـــايـــان

زموږ ګران هيواد افغانستان يو ډېر پخوانی هيواد دئ. د نن څخه نژدې ۵۰۰۰ کاله پخوا د افغانستان په شمالي خواوو کي آريايانو ژوند کاوه.




دا خلک زموږ لومړني نيکه ګان وه. دوی مځکي کرلې. دوی لومړی په بلخ کي ښاري ژوند پيل کړ. هلته يې د لومړي ځل د پاره په بلخ کي يو ښار ودان کړ.

د لومړي ځل د پاره يې پاچاهي جوړه کړه. د دوی لومړی پاچا (يما) نومېدئ.

آريايانو يو ديني لار ښوونکئ هم در لود چي نوم يې (زردشت) وو.

آريايانو د غرو په لمنو کي يو ډول بوټي چي د (سوما) په نامه يادېدل را ټولول. د دغو بوټو څخه به يې شربت جوړول او هغه به يې چښل.

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| هيواد | وطن | لومړني | اولي |
| پيل | شروع | ځل | واری |

تمرین: لاندي پوښتنو ته جواب و وایاست!

۱ـ آریایانو لومړی چیري ژوند کاوه؟

________________________________________________

________________________________________________

________________________________________________

۲ـ آریایانو د افغانستان په کوم ځای کي ښار جوړ کړ؟

________________________________________________

________________________________________________

۳ـ آریایانو چیري لومړی وار (ځل) پاچاهي جوړه کړه او د لومړي پاچا نوم یې څه شی وو؟

________________________________________________

________________________________________________

٤ـ آریایانو یو دین درلود. د دیني لارښوونکي نوم یې څه وو؟

________________________________________________

٥ـ آریایانو د څه‌شي څخه شربت جوړول او هغه یې چیري پیدا کول؟

________________________________________________

________________________________________________

# حاجي میر ویس خان نیکه

حاجي میرویس خان د ښالم خان زوی وو . دی په قوم هوتک او د کندهار د کوکران په کلي کي اوسېدئ . د مور نوم یې نازو انا وو .


حاجي میرویس خان

د نن څخه تر ۳۰۰ کالو څه زیات زموږ پر ګران هیواد باندي د ایران صفوي دولت تېری کړئ وو او ګورګین یې خپل نماینده را لېږلئ وو . ګورګین پر افغانانو باندي ډېر ظلمونه کول .

حاجي میرویس خان چي یو مېړنی سړی وو . دی په ۱۷۰۹ میلادي کال کي افغانانو د قوم مشر کړ . حاجي میرویس خان ګورګین د منځه یووړ او هیواد یې د ایران د صفوي دولت د ظلمه خلاص کړ . د ګورګین تر مرګ وروسته یې د قوم مشري پر غاړه واخیستله .

د میرویس خان تر مرګ وروسته د ده زوی شاه محمود پاچا سو . شاه محمود د ایران په هیواد کي تر اصفهانه پوري ټوله مځکي و نیولې او هلته پاچا سو . تر ده وروسته د ده د اکا ( تره ) زوی شاه اشرف پاچا سو . د میرویس خان کشر زوی شاه حسین په کندهار کي پاچا وو .


هوتکي شاه محمود


هوتکي شاه حسین


هوتکي شاه اشرف

تمرین: لاندي پوښتنو ته جواب و لیکئ!

د میرویس خان نیکه د پلار نوم څه شی وو؟

______________________________________________________________

د میرویس خان نیکه د مور نوم څه شی وو؟

______________________________________________________________

ولي میرویس خان نیکه خلکو د قوم په مشري و ټاکه؟

______________________________________________________________

د میرویس خان نیکه زوی شاه محمود کوم ځای و نیوئ او هلته پاچا وو؟

______________________________________________________________

شاه حسین څوک وو او چیري پاچا وو؟

______________________________________________________________

______________________________________________________________

ګورګین څوک وو او د کومه ځایه افغانستان ته را غلئ وو؟

______________________________________________________________

______________________________________________________________

______________________________________________________________

# د ماشوم حقونه

کله چې يو ماشوم که هلک وي که نجلۍ په دنيا کې سترګې خلاصې کړي نو پخپله ژوند مخ ته نه سي وړلای. دغه ماشوم د لويانو مرستې او غمخورۍ ته اړتيا لري. دغه اړتيا يې بايد مور او پلار ور تر سره کړي. د ماشوم اړتياوې لکه خواړه، اوبه، تازه هوا، کالي، بوټونه او د اوسېدلو ځاى ټاټوبى دي. سربېره پر دې د انسانانو مينې او محبت ته هم اړتيا لري.

دماشوم د حقوقو څخه يو هم د لوبو کولو حق دئ، مشران بايد هيڅکله ماشوم د لوبو څخه منع (بند) نه کړي.

پر پورتنيو اړتياوو سربېره ښه روزنه او پوهنه هم د ماشوم د حقوقو د جملې څخه شمېرل کيږي. دغه ټوله اړتياوې يې په لومړي سر کې د لويانو د خوا ورته برابريږي. کله چې ماشوم لږ څه په خبرو وپوهيږي نو بيا د لويانو خبرو ته غوږ نيسي. د دغه غوږ نيولو له لارې د يوې ښې راتلونکې د لاس ته راوړلو د پاره کوښښ کوي.

---

يادونه:

ښوونکئ دې زده کوونکو ته د ماشوم د حقوقو په باره کې خبرې و کړي.

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ماشوم | کوچنی | غمخوري | روزنه، پالنه |
| مرسته | کومک | اړتيا | ضرورت، غوښتنه |
| ټاټوبى | د اوسېدو ځاى | مينه | محبت، ګرانښت |
| روزنه | ساتنه، تربيه | لومړى | اول |

تمرین: د لاندي جملو خالي ځایونه په در کړه سوو کلمو ډک کئ!

| |
|---|
| ۱ـ ماشوم چي په نړۍ کي ـــــــــــــ خلاصي کي مرستي ته اړ دئ.<br>لاس<br>سترګي<br>کاالي |
| ۲ـ د ماشوم د حقوقو څخه یو هم د ـــــــــــــــــــ کولو حق دئ.<br>لوبو کولو<br>حق<br>چوکۍ |
| ۳ـ د ماشوم اړتیاوي لکه خواړه، اوبه ـــــــــــــ، کالي او نور دي.<br>ځغلي<br>تازه هوا<br>سپوږمۍ |
| ٤ـ کله چي ماشوم لږ څه په ـــــــــــــــ و پوهیږي نو بیا د لویانو خبرو ته غوږ نیسي.<br>کالي<br>کاغذ<br>خبرو |
| ٥ـ ماشوم د غوږنیولو له لاري د یوي ښې ـــــــــــــــــــ د لاس ته را وړلو د پاره کوښښ کوي.<br>راتلونکي<br>خوړو<br>مکتب |

# پلاره

شپه او ورځ لګیا په کار یې — مهربانه زما پلار یې
یې ډوډۍ پسې روان — په ستړیا نه یې د ځان
یا په فکر د لباس یې — غورځې پر ځې سرګردان
جوړوې موږ لره کور ته — د راحت مو یې غمخور ته
په تعلیم کې مو بېدار یې — مهربانه زما پلار یې

محمد عثمان (نژند)

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| لګیا | مشغول ، اخته | روان | رهي |
| لباس | کالي | سرګردان | ډېر مشغول |
| غمخور | غم خوړونکئ | تعلیم | زده کړه |
| بیدار | ویښ | | |

تمرین: د پلار د شعر په باره کي چي په خپله ژبه څه و  لیکئ!

_______________________________________________________________

_______________________________________________________________

_______________________________________________________________

_______________________________________________________________

_______________________________________________________________

_______________________________________________________________

_______________________________________________________________

_______________________________________________________________

_______________________________________________________________

_______________________________________________________________

# احمد شاه بابا

احمد شاه بابا د افغانستان یو لوی پاچا وو . احمد شاه بابا په قوم سدوزی او د ابدالي زمان خان زوی وو . پلار یې د هرات مشر وو . د مور نوم یې زرغونه انا وو .


احمد شاه بابا

کله چي نادر افشار د ایران د دولت له خوا پر افغانستان حکومت کاوه ، احمد شاه بابا د نادر افشار په عسکرو کي افسر وو.

په ۱۷٤۷ میلادي کال کي نادر افشار و وژل سو . په دغه وخت کي افغانانو د کندهار د شیر سرخ بابا په زیارت کي یوه جرګه جوړه کړه . په دې جرګه کي صابر شاه ملنګ د احمد شاه بابا په لنګوټه ( پټکي ) کي د غنمو یو وږی ور جګ کړ . اوس نو احمد شاه بابا پاچا سو .


د احمد شاه بابا ګنبده

احمد شاه بابا غښتلي عسکر چي شمېر یې سل زرو ته رسېدئ برابر کړه . احمد شاه بابا هېواد د دښمنانو د لاسه خلاص کړ . احمد شاه بابا د هیواد ټولو خلکو ته په ښه سترګه کتل . احمد شاه بابا پسله ۲٦ کاله پاچاهۍ څخه مړ سو او په کندهار کي ښخ سو .

د ده تر مرګ وروسته زوی تیمور شاه پاچا سو . تیمور شاه ۲۰ کاله پاچاهۍ مړ سو او پاچاهي د ده زامنو ته پاته سوه .

لغاتونه :

| | | | |
|---|---|---|---|
| افسر | عسکري سړی | زیارت | د یوه ښه سړي قبر |
| ملنګ | یو مسکین سړی چي د د نیا کارونه نه کوي | | |

تمرین: لاندي پوښتنو ته پوره جواب و وایاست!

۱ـ د احمد شاه بابا د پلار او مور نوم څه شی وو؟

پلار یې___________________ مور یې ___________________نومېده

۲ـ د احمد شاه بابا پلار څه کار کاوه؟

______________________________________________________________

۳ـ نادر افشار څوک وو؟ ___________________________________

______________________________________________________________

٤ـ احمد شاه بابا تر پاچاهۍ د مخه څه کار کاوه؟_______________

______________________________________________________________

٥ـ احمد شاه بابا څو کاله پاچاهي و کړه؟

______________________________________________________________

٦ـ احمد شاه بابا په کوم کال کي پاچا سو؟

______________________________________________________________

۷ـ احمد شاه بابا څرنګه پاچا سو؟_____________________________

______________________________________________________________

______________________________________________________________

______________________________________________________________

# بـــڼ

بڼ هغه ځای دئ چي ښې ښې وني پکښې ولاړي وي. بڼ موږ ته ډيري ګټې لري. بڼ موږ ته راز راز مېوې راکوي، په اوړي کښې يې د ونو تر سيوري لاندي کښېنو، په ژمي کښې يې د وچو لرګيو څخه د سونګ د پاره کار اخلو، وانښه يې خپلو ژويو ته د خورک د پاره ورکوو. د بڼ وني د ورځي د خوا څخه د لمر د رڼا په واسطه اکسيجن جوړوي چي زموږ د تنفس د پاره ډېر ضرور دئ. په اوړي کي ډېر خلک په بڼونو کي مېلې کوي.

د دې د پاره چي دغه ټول شيان ولرو نو ښه به دا وي چي په خپلو بڼو کښې ښې ښې وني کښېنوو او خپل بڼونه ښه و ساتو.

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| بڼ | باغ | ونه | درخته |
| سيورى | سايه | ژيوي | حيوانات |
| راز راز | ډول ډول | | |

تمرين:

۱ـ د بڼ په باره کي که تاسي تر دې زيات پوهېږئ و يې ليکئ چي تر پنځه ليکي کم نه وي.

________________________________________________

________________________________________________

________________________________________________

________________________________________________

________________________________________________

________________________________________________

________________________________________________

۲ـ لاندي پوښتنو ته جواب و ليکئ!

د بڼ د مېوو څخه څه ګټه اخيستل کيږي؟

________________________________________________

د بڼ د وچو لرګيو څخه څه ګټه اخيستل کيږي؟

________________________________________________

د بڼ پر ونو چي د لمر رڼا و لګيږي نو څه ګټه لري؟

________________________________________________

# کـــورنۍ

کورنۍ د پلار ، مور ، خويندو او ورونړو څخه جوړېږي . د کورنۍ هر انسان د کورنۍ د غړي په نامه يادېږي .

په کورنۍ کي پلار او مور د کورنۍ مشران دي . اولادونه د مور او پلار احترام کوي او په کارونو کي ور سره مرسته کو . د کورنۍ ټول غړي يو د بل احترام کي .

مور او پلار د کورنۍ د ژوندانه د سمون د پاره زحمت او زيار باسي او د ماشومانو د پاره خواړه ، کالي او د ژوندانه نوري اړتياوي برابروي . مور او پلار اولادو ته د انساني ژوند د ټولو غوښتنو سره سمه روزنه ور کوي . د کورنۍ ټول غړي د کارونو په سر ته رسولو کي يو د بل سره مشوره او مرسته کوي .

په کورنۍ کي کشران د مشرانو احترام کوي او مشران پر کشرانو مهربانه وي لکه چي وايي :

که مشر مشرتوب غـــواړي
کشر هم د دنيا دود غواړي

---

لغاتونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| احترام | عزت | سمون | ښه والئ |
| دود | رسم ، رواج | | |

تمرین: لاندي متن په سویډني ترجمه کئ!

کورنۍ د پلار، مور، خویندو او ورونو څخه جوړیږي. د کورنۍ هر انسان د کورنۍ د غړي په نامه یادیږي.

________________________________________________________________

________________________________________________________________

________________________________________________________________

________________________________________________________________

په کورنۍ کي پلار او مور د کورنۍ مشران دي. اولادونه د مور او پلار احترام کوي او په کارونو کي ور سره مرسته کو. د کورنۍ ټول غړي یو د بل احترام کوي.

________________________________________________________________

________________________________________________________________

________________________________________________________________

________________________________________________________________

________________________________________________________________

# ګاونډيان

زموږ د کور شاوخوا اوسېدونکو ته ګاونډيان وايي.

ګاونډيان يو پر بل باندي ډېر حقونه لري، چي يو څو يې دلته راوړو:

١ ـ که په مخه را سي سلام ور اچوو او روغبړ ور سره کوو.

٢ ـ که ناروغه شي، پوښتني ته يې بايد ور شو او پام و کړو چي په لوړ ږغ موزيک و نه ږغوو.

٣ ـ که څه شي ته اړ وي، بايد مرسته ور سره و کړو.

٤ ـ که وږئ وي، بايد ځان په خبر کړو او څه ور کړو.

٥ ـ که مړ شي د جنازې لمانځه ته يې بايد ور شو.

په اسلام کي د کور په شاوخوا کښي تر څلوېښتم کور پوري په ګاونډيانو کي شمېرل کيږي.

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ګاونډيان | همسايه‌ګان | روغبړ | ستړي مه شې |
| جنازه | مړی | | |

تمرین: لاندي پوښتنو ته جواب و لیکئ!

۱ـ ګاونډیان پر موږ باندي دا لاندي حقونه لري؟

- ______________________________
- ______________________________
- ______________________________
- ______________________________
- ______________________________

۲ـ د لاندي کلمو ضد کلمې په یوه خط سره و منښلوئ!

| | |
|---|---|
| تور | وړئ |
| شپه | کمزورئ (ضعیف) |
| پوست (نرم) | سپین |
| موږ | خیرن (چټل) |
| پاک | وچي وني |
| غښتلئ | انسان |
| شني وني | ورځ |
| حیوان | کلک (سخت) |

# اخـــــتر

د اختر په ورځو کي د نړۍ ټول مسلمانان خوښ او خوشاله وي. په هر کال کښي دوه ځله اختر وي. يو اختر د روژې تر نيولو وروسته راځي چي کوچنی اختر يې بولو او تر دغه کوچني اختر دوې مياشتي او لس ورځي وروسته لوی اختر راځي. په لوی اختر کښي د نړۍ شته من مسلمانان حج ته ځي او ټوله خلک چي پيسې لري د دغه اختر په ورځو کښي پسه، اوزګړی (وز)، غويی او يا اوښ حلالوي او غوښي يې و خوارانو او بېچاره خلکو ته خيرات ور کوي. دغه دواړه اخترونه درې درې ورځي وي.

په اخترونو کي مسلمانان نوي او يا پاک کالي اغوندي، يو د بل کورو ته سره ځي، خپلو کوچنيانو (ماشومانو) ته نوي کالي ور اخلي. کلچې، جلبۍ او خوږې خوري. کوچنيانو ته پيسې ورکوي.

کشران د مشرانو لاسونه مچوي او عزت يې کوي.
که څوک له چا څخه خواشينی وي د اختر په ورځو کښي پخلا کيږي.

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| شته من | خان | خوار | مسکين |
| بېچاره | مسکين، غريب | خواشينی | خوا بدی |
| ځله | واره | | |

يادونه: ښوونکئ دي د اختر په هکله د زده کوونکو سره خبري وکړي.

تمرين : لاندي لغاتونه ګډ و وډ در کول سوي دي تاسي جملې ځيني جوړي کئ !

۱ـ اختر ، د ، د نړۍ ، په ، مسلمانان ، ورځو ، وي ، کي ، خوشاله

د اختر ـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ

۲ـ دوه ، اختر ، ځله ، په ، کي ، کال ، وي

په کال ـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ

۳ـ روژې ، راځي ، يو ، وروسته ، د ، اختر ، تر نيولو

يو اختر ـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ

٤ـ کوچني ، تر ، وروسته ، راځي ، دوې ، ورځي ، مياشتي او لس ، لوی اختر .

تر کوچني اختر ـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ

ـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ

٥ـ پيسې ، په ، اخترونو ، ورکوي ، کوچنيانو ته ، کي ، خلک

په اخترونو ـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ

٦ـ ښه ، په ، د ، اختر ، کي ، خواړه ، خوري ، خلک ، ورځو

د اختر په ـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ

# پســـرلی

کله چي ژمی تېر سي پسرلی راځي. پسرلی د کال لومړی فصل دئ. په پسرلي کښي هوا ډېره ښه وي. په پسرلي کښي وني شنې کېږي، ګلان غوټۍ کوي، بوټي شنه کېږي او مرغان د سړو ځايو څخه تودو ځايو ته کوچ کوي. پسرلی د کار موسم دئ، خلک په پسرلي کښي په کار نه ستړي کېږي.

په پسرلي کښي خلک باغو او پټيو ته د مېلې د پاره ځي، د غلو او مېوو د پخېدو په هيله شپې او ورځي په خوښي تېروي.

په پسرلي کي حيوانات د شنو وښو په خوړلو پيل کوي. مرغان ځالې جوړوي، هګۍ اچوي او چيچيان باسي.

مېږي لنګېږي او کوچني وري پيدا کوي. مالداران شيدې، کوچ او مستې خوري او خرڅوي يې.

پسرلی په افغانستان کي د کال په دغه درو مياشتو کښي وي لکه:

**حمل** (وری)

**ثور** (غويي)

**جوزا** (غبرګولی)

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| فصل | موسم، وخت | کوچ | کډه |
| پټي | د کرلو مځکي | هيله | اميد |
| غلو (غله) | لکه غنم، اوربشي | کوچ | کوچي |

تمرین: لاندي د کال څلور فصلونه په پښتو او سویډني دږ کول سوي دي،
د هر سویډني نوم تر څنګ پښتو نوم و لیکئ!

| | |
|---|---|
| پسرلی | Vinter ------------------------------ |
| اوړی (دوبی) | Vår ---------------------------------- |
| منی | Sommar ---------------------------- |
| ژمی | Höst --------------------------------- |

پسرلی د کال په کومو میاشتو کي وي؟

________________  ________________  ________________

په پسرلي کي خلک چیري مېلې باسي؟

________________________________________________

په پسرلي کي ولي خلک خوشاله وي؟

________________________________________________

تر پسرلي وروسته کوم فصل را ځي؟

________________________________________________

په پرلي کي چي میږي لنګي سي نو خلک څه شی لري؟

________________________________________________

# د مسلمانۍ پنځه بناوي

د مسلمانۍ بناوي پنځه دي لکه :

پاکه کلمه

لمونځ

روژه

زکات

حج

۱ ـ پاکه کلمه لکه :

(لا اله الا الله محمد رسول الله)

۲ ـ لمونځ :

پر هر مسلمان په یوه شپه او ورځ کښي پنځه وخته لمونځ فرض دئ . لکه سهار ، ماپښين ، مازديگر ، ماښام او ماخستن .

۳ ـ روژه :

مسلمانان په کال کښي یوه میاشت روژه نیسي . روژه هره ورځ د سهار د لمر تر ختو د مخه بیا د ماښام د لمر تر لوېدو پوري نیول کیږي ، چي په دغه وخت کښي نه شی خوري او نه شی څښي .

٤ ـ زکات :

هر شته من (خان) مسلمان خوارانو او مسکینانو ته څه ور کوي .

۵ـ حــج :

حج پر هر مسلمان په ژوند کي يو وار فرض دئ.

حج د سعودي عربستان د مکې شريفي په ښار کي کيږي. د کعبې شريفي پر شا و خوا اوه واره را ګرځېدل، د صفا او مروه د غرو تر منځ اوه واره تلل او راتلل، د لوی اختر په شپه د عرفات ميدان ته تلل دي او د مدينې منورې زيارت کول چي هلته د حضرت محمد (ص) قبر دئ.

---

يادونه:

ښوونکئ دي د مسلمانۍ پنځه بناوي د زده کوونکو سره تکرار کړي او د هري هري بنا په هکله دي خبري ور سره وکړي.

تمرين:

۱ـ د مسلمانۍ بناوي څو دي؟ د هري يوې نوم و ليکئ!

________________________________________________________________

________________________________________________________________

۲ـ هر مسلمان بايد په يوه ورځ کي پر کومو وختو لمونځ و کړي؟

________________________________________________________________

۳ـ حج په کوم هيواد کي او په کومو ځايو کي کيږي؟

________________________________________________________________

________________________________________________________________

# هـــــيواد

مـــورِ بچيان د دې هيواد — پـــيدا شـــوي يـــو ازاد

خـــويندي ورونـــه افغانان — ګـــډ مـــو كور افغانستان

يو كه نن مـــورِ كوچنيان — خـــو سبـــا تـــه يو لويان

دغـــه خـــاوره به كړو بڼ — دا ډاګـــونـــه بـــه چمن

رسوو ځـــان تـــر جهان — څو مو متهو كي وي توان

خپل هـــيواد به كړو ودان

لوړ مـو نوم پر ټول جهان

پورتنۍ ليكنه يو شعر دئ. ځيني ليكني زمورِ د خبرو په ډول ليكل كيږي چي هغه ته نثر وايي. خو ځيني ليكني بيا په پورتني ډول ليكل كيږي چي شعر ورته وايي. د شعر هري ليكي ته بيت وايي. په پورتني شعر كي لاندي ليكه يو بيت دئ:

مـــورِ بچيان د دې هيواد — پـــيدا شـــوي يـــو ازاد

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| بچيان | اولادونه | بڼ | باغ |
| هيواد | وطن | | |

تمرين:

یو که نن مــوږ کوچنیان خــو سبــا تـــه یو لویان

د پورتني بیت مقصد په خپله ژبه و لیکئ!

_______________________________________ ______________________________

______________________________________________________________________

بیت څه شی ته ویل کیږي؟

______________________________________________________________________

______________________________________________________________________

د مثال په ډول یو بیت و لیکئ.

______________________________________________________________________

د پورتني شعر څخه مو څه زده کړه په خپله ژبه یې و لیکئ! ښوونکئ دي د زده کوونکو سره مرسته و کړي!

______________________________________________________________________

______________________________________________________________________

______________________________________________________________________

______________________________________________________________________

______________________________________________________________________

# ژیـوي

ژیوي چي خلک یې حیوانات هم بولي د انسانانو په ډول د پاک خدای مخلوق دي. د نړۍ پر مخ د انسانانو په شاوخوا کي ژیوي هم ژوند کوي. ژیوي دوه ډوله دي چي یو ډول یې د کورنیو او بل ډول یې د وحشي ژیوو په نامه یادیږي. کورني ژیوي هغه ژیوي دي چي د انسانانو سره یو ځای ژوند کوي او کله چي انسان و ویني نه ځیني تښتي لکه پیشي، سپی، پسه، خر، غوا، وزه او نور.

وحشي ژیوي هغه ژیوي دي چي په غرو او دښتو کي د انسانانو څخه لیري ژوند کوي او کله چي انسان و ویني نو ور څني تښتي. وحشي ژیوي دوه ډوله دي. یو یې هغه ژیوي دي چي د نورو ژیوو غوښي خوري او ځیني یې بیا د نورو ژیوو غوښي نه خوري.

وحشي حیوانات په واښه لرونکو ځایو کي ژوند کوي. یو ډول یې واښه خوري. بل ډول یې د واښه خوړونکو حیواناتو د غوښو د خوړلو د پاره په واښه لرونکو ځایو کي ژوند کوي.

---

لغاتونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| ژیوي | حیوانات | وحشي | چي آزاد ګرځي |
| مخلوق | د خدای پیدا | | |

تمرين:

وحشي ژيوي کوم ژيوي دي؟

____________________________________________________________

____________________________________________________________

وحشي ژيوي (حيوانات) ولي په وابنه لرونکو ځايو کي ژوند کوي؟

____________________________________________________________

____________________________________________________________

____________________________________________________________

د درو وحشي ژيوو نومونه و ليکئ!

____________________________________________________________

د درو کورنيو ژيوو نومونه و ليکئ!

____________________________________________________________

وحشي ژيوي (حيوانات) څو ډوله دي و يې ليکئ!

____________________________________________________________

____________________________________________________________

____________________________________________________________

# زمـــری

زمری یو وحشي حیوان (ژیوی) دئ چي زیاتره د افریکایي هیوادو په وابنه‌لرونکو ځایو کښي پیدا کیږي. دا ځکه چي په هغه ځایو کي نور داسي ژیوي ژوند کوي کوم چي غوښي يې زمریان خوري. د زمریانو وښتان ژیړ رنګ لري، تېره نوکان او قوي غاښونه لري. یو لوی زمری ۲۰۰ کیلو ګرامه وزن لري.

زمری یو غوښي خوړونکئ حیوان دئ چي د نورو حیواناتو غوښي خوري. اکثره وختونه په ډله (ګله) ګرځي او ښکار هم په ګډه کوي. د زمریانو په ګله کي یو نر، دوې یا درې ښځي او یو څو يې چیچیان وي. زیاتره وختونه يې ښځي ښکار کوي.

ښځه يې د کاله د دوو څخه تر شپږو پوري چیچیان باسي. د زمري چیچیان د خپلي مور شیدې روي (خوري).

---

لغاتونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| قوي | زور ور | ګله | ډېر، ډله |
| وزن | درونډ والئ | | |

وحشي — چي د انسانانو څخه لیري ژوند کوي، هغه حیوانات چي وحشي نه دي هغه د کورني یا اهالي حیواناتو په نامه یادیږي.

**تمرين:**

د زمري غاښونه ولي قوي (زورور) وي؟

ځکه چي ________________________________________________

________________________________________________

د زمري نوکان ولي تېره وي؟

________________________________________________

يو لوی زمری څومره دروند وي؟

________________________________________________

د زمري ښځه د کاله څو چيچيان باسي؟

________________________________________________

زمريان ولي په ګله ګرځي؟

________________________________________________

________________________________________________

# توتکۍ

توتکۍ یوه کوچنۍ مرغۍ ده. توتکۍ دوه ټاټوبي لري، یو یې په شمال کي دئ او بل یې په جنوب کي دئ. د مای د میاشتي څخه بیا د اګست تر میاشتي پوري په شمالي هیوادو کي ژوند کوي. دلته ځالګۍ جوړوي او چیچیان اچوي.

کله چي چیچیان یې د هګۍ څخه راووزي نو ډېرو خوړو ته اړتیا لري. پلار او مور یې خپلو چیچیانو ته حشرې ور نیسي او په خوري یې.

کله چي یې چیچیان په الوتلو پیل وکړي او و کولای سي چي پخپله والوزي نو ټوله په ګډه افریکا ته کوچ کوي.

| | |
|---|---|
| تــوري تــــوتکۍ | دوه تــاره دي لـکۍ |
| جــوړه کــه ځــالۍ | پکښي وا چوه هګۍ |

---

لغاتونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| مرغۍ | چوغکه | ټاټوبي | د اوسېدو ځای |
| اړتیا | ضرورت | حشرې | کوچني حیوانات لکه غوماشي (ماشي) |
| کوچ | کډه | پیل | شروع |

تمرین: لاندې پوښتنو ته جواب و لیکئ!

۱ـ توتکۍ ولې په ژمي کې تودو ځایو ته کوچ (کډه) کوي؟

________________________________________________

________________________________________________

۲ـ توتکۍ په کومه میاشت کې ځالګۍ جوړوي؟

________________________________________________

۳ـ د توتکۍ چیچیان څه وخت ډیرو خوړو ته اړتیا لري؟

________________________________________________

٤ـ د توتکۍ چیچیانو ته څوک خواړه ور کوي؟

________________________________________________

٥ـ کله چې د توتکۍ چیچیان په الوتلو شروع و کړي نو بیا چیرې کوچ کوي؟

________________________________________________

________________________________________________

# زموږ خواړه

څه چي موږ خورو دا لاندي شیان دي لکه: پروتین، غوړي (شحم)، بوره او ویټامینونه.

۱ـ پروتین په لاندي خوړو کي سته لکه:
- غوښي، ماهی، هګۍ او ځیني نور.
- حبوبات (داني) لکه: لوبیا، نخود او نور.
- غلې لکه: غنم، اوربشي، جواري او نور.

۲ـ غوړي دوه ډوله دي لکه:
- حیواني غوړي: په شیدو کي لکه کوچ، پنیر، مستې، شیدې او د حیواناتو په غوښو کي د سپیني په ډول وي.
- نباتي غوړي: داغوړي د یو شمېر دانو څخه لکه شرشم، کونجدې او نورو څخه باسي.

۳ـ بوره: بوره په مېوو، شیدو، غلو (غنم، اوربشي، جواري، ورجو او نورو) کي پیدا کیږي.

۴ـ ویټامینونه: په مېوو، دانو، غلو، سابو، د ماهي په غوښه او نورو خوړو کي پیدا کیږي.

کله چي خواړه خورو کوښښ باید و کړو چي پروتین، غوړي، بوره او ویټامینونه و لري. په یاد یې باید و لرو چي د دغو خوړو د جملې څخه چي هر یو تر خپلي اندازې زیاته سي سړي ته د ګټي پر ځای تاوان رسوي.

تمرین: لاندي پوښتنو ته لنډ لنډ جوابونه و لیکئ!

۱ـ په یوه ګوله (مړۍ) خوړو کي کوم مواد سته؟

ـ ______________________________________________

ـ ______________________________________________

ـ ______________________________________________

ـ ______________________________________________

۲ـ په دې پوهیږو چي انسان ویټامینو ته اړتیا لري. اوس و لیکئ چي انسان دغه ویټامینونه د څه شي څخه په لاس را وړي؟

______________________________________________

۳ـ بوره په کومو موادو کي سته؟

______________________________________________

٤ـ پروتین په څه شي کي سته؟

ـ ______________________________________________

ـ ______________________________________________

٥ـ که خواړه نه وي نو انسانانو ته څه ور پېښېږي:

______________________________________________

______________________________________________

تمرين :

د فعل يا کارکولو څخه وخت هم ښکاره کيږي لکه :

حال (اوس زمانه)

ماضي (تېره زمانه)

استقبال (راتلونکې زمانه)

اوس به دلته هره هره زمانه ولولو :

۱ ـ حال present :

هغه زمانه (وخت) دئ چي يو کار اوس کيږي لکه :

ځم، ليکي، خورئ، وړئ او نور.

ماضي يا تېره زمانه :

دا هغه زمانه ده چي يو کار په تېر وخت کي سوئ وي او دا زمانه پر درې ډوله ده لکه :

الف ـ مطلقه ماضي past tense :

چي يو کار په تېره زمانه کي سوئ وي لکه :

احمد ښوونځي ته ولاړ .

تا ډوډۍ وخوړه .

زه کور ته راغلم .

موږ ښوونځي ته ولاړو .

او نور .

### ب ـ قریبه یا نیژدې ماضي Present Perfect :

په دې زمانه کي یو کار اوس ته نیژدې په تېره زمانه کي سوئ وي لکه :

تا ډوډۍ خوړلې ده .

موږ کتاب راوړئ دئ .

تاسي کور ته تللي یاست .

### ج ـ بعیده یا لیري تېره زمانه Past Perfect :

چي یو کار په لیري تېره زمانه کي سوئ وي لکه :

موږ خپل کار کړئ وو .

ته کابل ته تللئ وې .

دوی راغلي وه.

دې د خپل پلار سره خبري کړي وې .

### ۳ ـ راتلونکې زمانه future :

چي یو کار په راتلونکې زمانه کي کیږي لکه :

احمد به راسي .

موږ به وخاندو.

دوی به خط ولیکي .

# لنډي پښتو کيسې

ګرانو زده کوونکو کله چې څوک په ښوونځي کې وي د ښې زدکړې د پاره باید هره ورځ په کور کې د ښوونځي کتابونه ولولي او کورنی کار يې وکړي. خو د ښه تمرين او زياتې زدکړې د پاره به ښه دا وي چې د دغو کتابو تر څنګ اخبارونه او ځيني نور کتابونه هم و لولئ. دغه کتابونه د ښوونځي او د ښار په کتابخانو کې ستته.

دا چې په کتابخانو کې ستاسي په سويه پښتو کتابونه نه ستته نو ځکه دغه لاندي لنډي کيسې ستاسي د لوستلو د پاره دلته را وړل سوي دي.

## خر او سپی

یو بزګر له کوره ووت له ځانه سره یې خپل خر او سپی هم و ایستل. ډوډۍ یې د خره پر شا بار کړه او سپی هم ور سره رهي وو ، کله چي کښت ته و رسېد ، خر یې د څرېدو د پاره ایله کړ. بزګر په کار بوخت شو او سپی په یوه ځای کي پرېوت. بزګر چي یو څه کار و کړ ، ستړئ او ستومانه شو ، کار یې پرېښود ، ولاړ چي تر یوې وني لاندي ویده شي او خپله ستومانتیا لیري کړي. بزګر د یوې وني تر سیوري لاندي بیده شو.

پدې وخت کي سپی ډېر وږی شو ، خره ته راغئ او ورته و یې ویل:" ای ملګریه! اجازه ده چي د هغي ډوډۍ څخه چي ستا پر شا بار ده یوه مړۍ واخلم؟ ډېر وږی شوی یم".

خره ورته وویل: " صبر وکړه تر څو دي څښتن راوینښ شي". نو خره د سپي خبري ته هیڅ غوږ و نه نیوئ او بیرته یې په څرېدو پیل وکړ.

ډېر وخت لا نه وو تېر شوئ چي یو وږی لېوه د خره پر لور راغی. خره چي لېوه ولید ډېر ووېرېد. په زاریو یې پیل وکړ او سپي ته یې وویل:" ای ملګریه! لېوه نه وینې، ولي پروت یې؟ هیله کوم چي ما ور ځني خلاص کړې".

سپي ورته وویل: "ته هم صبر وکړه تر څو دي څښتن راوینښ شي".

# تـــوتـــي

یو سړي یو توتي درلود . کله چې به د کوره وتۍ نو توتي به یې هم له ځانه سره یووړ او په یوه ځای کي به یې ځوړند کړ .

سړی چي به کله په کار بوخت شو توتي به په خبرو پیل و کړ او ورته ویل به یې چي ورځ په خیر .

یوه ورځ سړي ته یو ضروري کار ور پېښ شو ، توتي یې په کور کښې پرېښود او ولاړ .

پدې وخت کښې د سړي ګاونډی راغئ ، توتي یې واخیست او خپل کور ته یې یووړ . کله چي د توتي خاوند راغئ ګوري چي توتي نشته . نو ډېر خواشینئ شو او د ګاونډي کور ته ولاړ او ورته و یې ویل :" وروره ! زما توتي چا وړئ دئ ته خبر نه یې "؟

ګاونډي ورته وویل :" یه " .

پدې وخت کي توتي د خپل خاوند اواز واورېدئ او ناري یې کړې :" ما واخله او کور ته مي یوسه ". د توتي خاوند کوټې ته ورننوت او توتي یې راواخیست . پر ګاونډي باندي یې خولې را ماتي شوې او له ځانه سره یې وعده وکړه چي بیا به غلا نه کوي .

## لېوه د پسه په جامه کښې

يوه ورځ يوه لېوه د پسه پوستکئ واغوستئ او د پسو په رمه کې ګرځېدئ. لومړی پسونه او شپون نه په پوهېدل چې دا لېوه دئ او که پسه. کله چې به د شپون پام بلې خوا ته شو، ژر به يې پر يوه پسه حمله وکړه او هغه به يې و داړه. پدې توګه يې څو پسونه ټپيان کړل.

څه وخت وروسته شپون ور باندې پوه شو، نو يې و نيو او په يوه ونه پورې يې کلک (ټينګ) وتاړه، ناڅاپه له څو ګړيو تېرېدو وروسته يو بل ډېر وږئ لېوه پر هغه لورې راغئ، ګورې چې پسه په ونه پورې تړلئ دئ، نو ژر يې حمله ور باندې وکړه، خوله يې پرې و لګول او غاښونه يې پکښې ننه ايستل. لېوه چې هرڅونه کوکارې او نارې وکړې او و يې ويل چې" زه ستا په شان لېوه يم مګر د پسه پوستکئ مې اغوستئ دئ"، هغه لېوه يې خبره و نه منله، په پای کښې يې لېوه په ډېره ناوړه توګه مړ کړ، څه يې و خوړ او ور څخه ولاړ.

# د زمري قانون

یو چرګ کلي ته نژدې په پټیو کي داني ټولولې چي ناڅاپه یوه ګیدړه ورباندي راغله ، چرګ چي ګیدړه و لیده ژر یې د یوې وني څانګي ته ور ټوپ کړه او د وني په یوه لوړه څانګه کي کښېناست ، ګیدړه وني ته نه شوای پورته کېدلای . نو له خپل چل او مکر څخه یې کار واخیست او چرګ ته یې وویل :

"اې چرګه ! زه خبره شوم چي ته ناروغ یې ، ستا د پوښتني د پاره راغلې یم . هیله کوم چي یو وار را کښته شې تر څو یوه شېبه سره کښېنو، خبري و کړو ".

چرګ ورته وویل : "زه تا پېژنم چي چل بازه او مکاره ګیدړه یې او د دې د پاره راغلې یې چي ما وخورې . زه نه در کښته کېږم ، ځکه ستاسو خاندان زموږ ډېر چرګان ورونه خوړلي دي".

ګیدړي ورته وویل :" هغه خو د ناپوهۍ وختونه وه چي کوم قانون موجود نه وو . اوس د زمري له خوا یو نوئ قانون جوړ سوئ دئ او په هغه کي د حیواناتو تر منځ دښمني لیري شوې ده ، او همدا سبب دئ چي اوس لېوه له پسه سره ، پیشو له موږک سره ، ګیدړه له چرګانو سره او همدارنګه نور حیوانات یو له بل سره یو ځای ګرځېدلای شي".

چرګ ورته وویل:" شکر دئ چي د نوي قانون په اساس وبره له منځه ورکه شوه او د حیواناتو تر منځ دوستي مینځ ته راغله. نو زه هم هیله کوم چي ته هم د هغو سپیانو سره چي ستا پر لور را رهي دي کښېنې او خبري و کړې". ګیدړي چي دا خبره واورېده شاته یې و کتل. ګوري چي په ریښتیا د دې پر لوري سپیان را رهي دي نو په ځغاسته یې شروع وکړه.

چرګ ورته وویل:" چیرته منډي وهې"؟

ګیدړي ورته وویل:" ښایي چي سپیانو به نوئ قانون نه وي لوستلئ ، په خبر به نه وي او ما به وخوري".

## موږکان او پیشي

په یوه کور کي ډیرو موږکانو ژوند کاوه. اما د دوی ژوند ډیر په تکلیف تیریدئ. ځکه په هغه کور کښي یوه ډیره غښتلې او تکړه پیشي هم اوسیدله او موږکانو نه سوای کولای چي د دې پیشي له ویري (بیري) د خپلو غارو څخه را ووزي. که چیري کومه ورځ یو موږک د خپل غاره څخه راوتئ نو پیشو به یو دم ټوپ ور باندي وواهه، هغه به یې و نیوئ او و به یې خوړئ.

موږکانو یو څه وخت پدې شان په تکلیف کي تیر کړ. په پای کي مجبوره سوه چي په کوم ځای کي مجلس سره وکړي او کومه چاره و سنجوي څو ځانونه د دې پیشي له شره خلاص کړي. هغه وو چي د دغه کور ټولو موږکانو ته یې خبر ور کړ چي یوه ورځ د دې د پاره چي د هغې پیشي د شره څخه د ځان د خلاصولو په سبب یو مجلس جوړوي.

مجلس په ډیر شوق او خوښي سره جوړ سو او ټول موږکان مجلس ته راغله. د مجلس په پیل کي لوی موږک د ټولو نورو موږکانو څخه غوښتنه وکړه چي خپلي نظریې دي و وایي.

لومړی کوچنی موږک ولاړ سو او خپله نظریه یې داسي بیان کړه : " موږ باید لومړی یوه کوچنۍ زنګوله (زنګ) پیدا کړو او د پیشي په غاړه کي یې ور واچوو. کله چي پیشي راووزي نو ټول موږکان به و ترنګتي دا د خلاصون یوازنۍ لار ده". په لومړي سر کښي ډېر موږکان پدې نظریه خوشاله سوه او چک چکي یې پر وکړې.

پسله دې څخه هغه لوی او هوښیار موږک د ځایه ولاړ سو او و یې ویل: " کوم یو زموږ او ستاسي څخه کولای سي چي د پیشي په غاړه کي زنګوله ور واچوي" ؟

د لوی موږک د دې خبري په اورېدو سره ټول موږکان په فکر کي و لوېدل ، د ډاره و رېږدېدل او و پوهېدل چي هیڅ یو د دوی نه سي کولای چي زنګ پیدا کړي او د پیشي په غاړه کي یې ور وا چوي.

## د وني شاهدي

يوه سړي يو چا ته زر افغانۍ په پور ور کړې. څه موده وروسته چي يې خپلي پيسې بيرته ور څخه و غوښتې پوروړئ پر پيسو منكر سو.

د پيسو خاوند قاضي ته عرض وكړ. قاضي چي د دواړو څخه پوښتني وكړې، پوروړي سوګندونه كول چي ما ته يې نه دي راكړي.

قاضي د پيسو خاوند ته وويل: " چي پيسې دي چيري ور كړې"؟ هغه ورته وويل چي: " تر يوې درختي (وني) لاندي ولاړ وو چي ور مي كړې".

قاضي د پيسو خاوند ته وويل: " ورسه هغه ونه (درخته) راوله چي شاهدي ور كړي".

سړي وويل: " ونه (درخته) به څرنګه راسره راسي" ؟

قاضي ورته وويل: " ورسه وني ته ووايه چي راسه قاضي غوښتې يې ".

سړی ولاړ چي ونه راولي، قاضي د پوروړي څخه پوښتنه وكړه: " هغه سړی به اوس رسېدلئ وي"؟

پوروړي وويل: ”نه تراوسه به لا نه وي رسېدلئ. ځکه هغه ونه خو ډېره ليري ده“.

قاضي چپ سو، څه شېبه وروسته د پيسو خاوند راننوت او سلام يې وکړ، قاضي ورته وويل: ”را دي نه وسته“؟

سړي ورته وويل: ”هر څونه چي مي ور ته وويل جواب يې را نه کړ“.

قاضي وويل: ”راځه وني شاهدي ور کړه“.

هغه سړي قاضي ته په حيرانتيا وويل: ”زه خو دلته ستا سره ناست وم، وني کله شاهدي وويل“؟

قاضي ورته وويل: ”ما چي ستا څخه پوښتنه وکړه، چي هغه سړی به اوس وني ته رسېدلئ وي؟ نو که يې تاته رښتيا تر هغې وني لاندي پيسې نه وای در کړي نو تا به ويلي وای چي ما ته ونه نه ده را معلومه چي چيرته ده“.

هغه سړي سر ځوړند ونيو او قاضي د سړي زر افغانۍ ځني واخيستې.

# خرس او زمری

یوه ورځ یو خرس مست سوئ وو او هري خوا ته په ازادي سره ګرزېدئ. د ډېر کبر او غرور څخه په ځنګله کي نه ځایدئ. داسي یې فکر کاوه چي په دنیا کي تر ده هیڅ زور ور نه سته چي د ده سره دي مقابله وکړي. په اخر کي یې و زمري ته خبر ور کړ چي سبا ته دي د ده سره جنګ ته حاضر سي.

کله چي د خرس خبر و زمري ته ورسېد، زمري وویل:" زه هیڅ وخت نه حاضرېږم چي د خرس سره جنګ وکړم، ځکه که زه دی مړ کړم نو دا کار به زما د پاره فخر نه وي او که دی ما مړ کړي نو دا به زما د ټولي کورنۍ د پاره شرم وي".

کله چي خرس د زمري دغه خبره واورېده ډېر خوشاله سو. فکر یې وکړ چي دی په رښتیا زورور دئ. ځکه یې و زمري ته خبر ور کړ چي زه د ځنګله ټولو حیوانانو ته خبر ور کوم چي زمری زما سره جنګ کولو ته حاضر نه سو. زمري وویل:" دغه شرم پروا نه کوي تر دې چي زما بدن دده په مرداره وینه ولړل سي ".

## حریص محروم دئ

یوه ورځ یوه سپي یوه ټوټه غوښه په خوله کي نیولې وه او د رود پر غاړه رهي وو. نا څاپه یې خپل ځان په اوبو کي و لید، ګومان یې و کړ چي په سیند کي بل سپی دئ او غوښه یې په خوله کي نیولې ده. نو ددې د پاره چي د هغه سپي څخه هغه غوښه واخلي، خوله یې خلاصه کړه. د خولې په خلاصېدو سره یې خپله غوښه د خولې څخه ولوېده او کبانو وخوړه.

سپی ددې پیښې څخه ډېر خواشینئ سو او له ځانه سره یې وویل:" هغه څوک چي پر نورو باندي د تیري خیال لري او زیات حریص وي دا به یې پای وي چي د خپلي خولې څخه به یې خواړه لوېږي".

## زمری او غویی

په يوه ځنګله کي يوه ډېر زاړه زمري ژوند کاوه چي د ډيري کمزورۍ او زهيروالي څخه په ښکار پسې نه سواى وتلاى. په ورځو او په شپو به وږئ وو. دغه ځنګله ته نژدې يو ډېر چاغ غويي هره ورځ د څر د پاره راوتئ. زمري دا چاره و سنجول چي دغه غويي به د مېلمستيا په بانه(پلمه) را وغواړي او غوښي به يې وخوري. د دې د پاره يې ګيدړه ور ولېږل او ورته ويې ويل چي زمري تا ته سلام وايه او پسله سلامه يې تاته بلنه درکړې ده چي د غرمې د ډوډۍ د خوړلو د پاره و ځنګله ته راسې چي هلته يې ستا د مېلمستيا د پاره ښه خواږه واښه بربر کړي دي او د ځان د پاره يې د وري غوښي پخې کړي دي.

غوايي هم د زمري مېلمستيا په خوښي سره و منل او د ځنګله پر لور رهي سو. كله چي د زمري كور ته را نژدې سو،

ګوري چي هلته نه واښه سته او نه د وري غوښي، بلکي يو لوى دېګ او يو شمېر لوى لوښي اېښودل سوي دي.

غوايي چي دا دېګ او لوښي وليدل نو و تښتېد. زمري پسې ور ږغ کړه: "چيري ځې؟ خوښه دي نه ده چي زما سره کښېنې، مجلس وکړې او هغه ډوډۍ چي ستا د پاره مي جوړه کړې ده و خورې"؟

غوايي وويل:" کله چي مي دغه لوی دېگ او لوښي و ليدل و پوهېدم چي په دې کي د وري غوښي نه دي پخې سوي بلکي دا د غوايي د غوښو د پاره جوړ سوي دي . زه د دې د پاره نه يم را غوښتل سوئ چي د زمري سره ډوډۍ وخورم بلکي د دې د پاره راغوښتل سوئ يم چي زمری زما غوښي وخوري".

# د چرګ هوښیاري

یوه ورځ یوه وږې ګیدړه د یوه کلي پر خوا روانه سوه. کله چې کلي ته نژدې سوه و یې لیده چې یو چاغ چرګ د دانې په ټولولو بوخت دئ. ګیدړه د چرګ په لیدو سره ډېره خوشاله سوه او د خدای شکر یې و کیښ. کرار کرار یې ځان چرګ ته ور نژدې کړ او ورته ویې ویل: " ما د ډېره وخته څخه ستا پلار پېژندئ، هغه زما د دوستانو او رفیقانو څخه وو. زړه وړونکئ اواز او ښه ځواني یې درلوده. هر وخت چې به زه پر دې لار تېرېدم نو به ورته راغلم او د ده زړه وړونکئ اواز به مې واورېدئ نو به ډیري ورځي خوشاله وم، نه پوهېږم چې ستا اواز څرنګه دئ"؟

چرګ ور ته وویل: " زما اواز او ځواني که زما د پلار تر هغې ښه نه وي بد هم نه دي". د ګیدړي د خوښۍ د پاره یې خپل وزرونه و ښورول او سترګي یې پټې کړې په اذان کولو یې پیل وکړ. پدغه وخت کي ګیدړي ژر حمله پر وکړه او پخپلو تېرو غاښو یې و نیوئ او د غره و خوا ته روانه سوه. پدې حال کي د کلي سپي خبر سوه ټولو په ګیدړي پسې و ځغستل او ګیدړي ته یې ځانونه ور و رسول. ګیدړه نه پوهېده چې څه وکړي پدې وخت کي چرګ ور ته وویل: " اې ګراني ګیدړي که غواړې چې د سپیانو د شر څخه ځان خلاص کړې نو ور ته ووایه چې دا چرګ ستاسي د کلي نه دئ. کله چې ګیدړي خوله خلاصه کړه چې خبري وکړي، چرګ یې د خولې څخه ځان خلاص کړ او د کلي پرلور یې و ځغستل".

## لېوه او زاڼی

يوه ورځ د يوه لېوه په ستوني کښې هډوکئ بند سوئ وو ، هر څومره يې چې د تېوخي له لارې ستونئ پاک کړ ، هډوکئ يې له ستوني نه را و نه ووت. ډېر په عذاب شو ، نو زاڼي ته ورغئ او ورته ويې ويل:" هيله کوم چې په مشوکه سره دي زما د ستوني څخه هډوکئ را و باسې او کله چې دي دا کار و کړ، زه حاضر يم چې زياته اجوره در کړم".

زاڼي ژر خپل سر د لېوه په خوله ور ننه ايست او د خپلي اوږدې مشوکي په واسطه يې هډوکئ د لېوه له ستوني څخه را و ايست. او لېوه ته يې وويل:

"ملګريه! اوس نو د خپلي وعدې سره سم اجوره راکړه".

لېوه ورته وويل:" ته لا خوشاله نه يې چې سر دي زما په خوله ننه ايست او بيرته دي جوړ او تيار را و ايست""؟

ته څرنګه اجوره غواړې ، حال دا چې ته بايد ما ته اجوره را کړې او را څخه خوشاله و اوسې چې ستا سر مي و نه خوړئ".

## زمرى او موږک

يوه ورځ په يوه ځنګله کي د زمري په مخ کي يوه موږک و ځغستل. زمري موږک ونيو او غوښتل يې چي و يې خوري موږک زارۍ ورته پيل کړې چي "ما مه خوره، زه خو ډېر کوچنی حيوان يم په ما به دي ځه و نه سي، يو وخت به دي په ښه در سم".

زمري موږک ته وويل: "زه چي د ځنګله تر ټولو حيواناتو زورور حيوان يم ته به نو ما ته څه مرسته راورسوې". خو اخر يې موږک ايله کړ.

يوه ورځ يوه ښکاري په ځنګله کي دام ايښئ وو چي غوښتل يې يو حيوان پکښي و نيسي. ناپامه زمری د ښکاري په دام کي بند سو. هر څه کوښښ چي يې وکړ ځان يې خلاص نه کړ نو يې په نارو وهلو پيل وکړ. د زمري نارې چي موږک واورېدې نو سمدستي د مرستي د پاره حاضر سو او د دام پړی (تناو) يې ځو ځايه پخپلو تېرو غاښو پرې کړ او زمری يې د ښکاري د دام څخه خلاص کړ.

# دا وېش دي له چا نه زده کړ

وايي چي يوه ورځ زمري، شرمښ او ګيدړه يو ځای په ښکار ووتل، يو خر، يوه هوسۍ او يوه سوی يې ښکار کړل. زمري شرمښ ته مخ راواړاوه چي "دا ښکار ووېشه"!

شرمښ وويل: "خر يې ستاسي، هوسۍ يې زما او سوی يې د ګيدړي، دا سم تقسيم (وېش) دئ".

ده چي دا وېش وکړ نو د زمري طبعت خراب سو، پر ده يې ور ټوپ کړه سترګي يې په پنجو ورخخه وايستې. ګيدړه پوه سوه چي زمري ته خو ډېر درد ورغلئ دئ. نو شرمښ ته لګيا سوه: "خدای دي خوار کړه داسي وېش څوک کوي لکه تا چي وکړ"؟

بيا زمري ګيدړي ته وويل چي: "ته يې ووېشه"!

هغې وويل: "ښه دا خو اسانه کار دئ. خر به سبايي وخورې، هوسۍ به بېګاه ته وساتې او په سوی به غاښونه تاوده کړې".

زمري وويل: "دا وېش دي له چا نه زده کړ"؟

هغې وويل: "د شرمښ د سترګو څخه".

# توره موچۍ او چرچرکه

یوې خوارکۍ موچۍ په یوه باغ کښې ګبین جوړ کړئ وو. هیڅ ارام یې نه وو. چې سهار به سو نو به په شنو باغو او ګلانو کې ګرزېده او دهغو څخه به یې خوږه شیره را غونډوله او په خپل ګبین کې به یې ذخیره کوله. په لږ ورځو کښې یې خپل کندو د شاتو څخه ډک کړ او د ژمي له غمه یې ځان خلاص کړ.

په دغه باغ کښې یوه شورناکه چرچرکه هم اوسېده، همېشه به یې سندري ویلې او ژوند به یې په خوشالي تېراوه او دسبا ورځې غم ور سره نه وو. څه چې به یې په لاس ورتله هغه ګړی به یې خوړل. کله چې د ګرمۍ ورځې تیري سوې ژمی او یخني راغله. د ګرزېدو او خوراک پیدا کولو لاري بندي سوې.

هغه موچۍ چې اوړی او پسرلی یې په زحمت تېر کړي وه او پوره ذخیره یې ټوله کړې وه خپل ګبین ته به ننوتله او هلته به ارامه کښېناسته او د اوړي د کړاو فایده به یې خوړله.

یخو بادو او واورو شروع وکړه، هوا بدله سوه، مځکه په واورو پټه سوه او سخت ژمی پیل سو. کله چې چر چرکې ولیده چې هري خوا ته لاري بندي دي نو دې موچۍ ته راغله او د سختي یخني او لوږي څخه یې ورته شکایت و کړاو مرسته یې ځني وغوښتل.

مچۍ په جواب کي ورته وويل : "ما ټول اوړی او پسرلی کوښښ کړئ دئ او خوراکه مي ټوله کړې ده . ناپوهي!" ته خو هغه يې چي د سبا فکر در سره نه وواو غزلي به دي ويلې او خوشالۍ به دي کولې . هيڅ فکر دي نه کاوه چي يوه ورځ به داسي راسي چي نه به سړی کار کولای سي او نه به څوک مرسته ور سره کولای سي"

.

چرچرکي د موچۍ خبري واورېدې او ډېره پښېماني يې وکړه او ويې ژړل چي ولي مي د کار په وخت کي بې پروايي کوله چي اوس داسي محتاج او په بد حال يم .

## ګیدړه او لېوه

یوه ګیدړه په یوه ژور ځا کې و لوېده ، هر څومره چې يې زيار و کېښ و يې نه سوای کړای چې د ځا څخه را ووزي ، نو په چيغو او نارو يې پيل و کړ. نارې سورې يې يوه لېوه واورېدې، په منډه د ځا غاړې ته ورغئ. ګورې چې په ځا کښې يوه ګيدړه لوېدلې او نژدې ده چې پکښې مړه شي. خو لېوه د دې پر ځای چې ګیدړه له ځا څخه را وباسي په داسي خبرو يې پيل وکړ:

"زه چې تا پدې ژور ځا کې وينم په رښتيا سره ډېر خوا شينئ يم. خو نه پوهېږم چې ته چا پدې ځا کښې غورځولې يې؟ څو ورځې کيږي چې ته پدې کوهي کښې پرته يې؟ ايا ساړه او يخني دي کيږي؟ ژر جواب راکړه چې زيات در باندي خوا شينئ شوم".

ګيدړي ور ته وويل:" لومړی ما د مرګه خلاصه کړه او بيا چې هر سوال کوې جواب به يې درته ووايم، ځکه اوس د خبرو او بحث ځای نه دئ. هره خبره او هر ټکی ځانته ځای لري".

## بلبل او باز

يوه ورځ بلبل باز ته وويل: ”کله چي زه خپل حال او ستا حال سره مقايسه کوم پر خپل حال مي ژړا راځي ځکه ته پر ټولو خلکو ګران يې. عادي خلک لا څه چي پاچاهان دي پر خپلو لاسو کښېنوي او له يوه ځايه دي بل ځای ته وړي. حال دا چي هيڅ غرېدلای (رېغېدلای) نه شې. خو زه سره له دې چي ښه اواز لرم او خوندوري سندري وايم، په شپو، مياشتو او حتا په کلو کلو په کپس کښي بندي يم“.

باز وويل: ”ايا پوهېږې چي ولي ټول خلک زما لمانځنه کوي“؟ بلبل ورته وويل: ”يه، نه پوهېږم“.

باز وويل: ” د دې علت دادئ چي زه خلکو ته ښکار کوم خو هيڅ نه وايم، ياني زه هغه مرغه يم چي کار کوم او څه نه وايم او ته هغه مرغه يې چي وايې خو هيڅ نه کوې. نو موږ بايد کار ډېر او خبري لږ وکړو. ځکه له زياتو خبرو څخه څه ګټه نه اخيستل کيږي“.

## غله او چرګ

څو تنه غله د یوه غریب سړي کور ته ننوتل ، خو له یوه چرګ نه پرته یې نور هیڅ شی پکښي پیدا نه کړ. چرګ یې له ځانه سره واخیست ، کله چي غله خپل کور ته و رسېدل ، نو و یې غوښتل چي چرګ حلال کړي. چرګ په ډېره عاجزي غلو ته وویل:" ما پرېږدئ ، مه مي حلالوئ. زه د حلالولو وړ نه یم ځکه هر وخت له نیمي شپې وروسته په ازانو پیل کوم او تر سبا پوري دومره ناري سوري وهم چي د ګهیځ (سهار) د لمانځه لپاره ویښ شئ". غلو په جواب کښي ورته وویل:" چپ شه ، ډېر مه غړېږه او زیات منطق مه وایه ، پخوا که ستا حلالول پر موږ سنت وه خو اوس را باندي فرض شوه. ځکه کله چي موږ کوم کور ته د غلا لپاره ننوزو ، ته ازانونه کوې او د کور خاوند را باندي ویښوې".

چرګ پوه شو چي کوم کارونه چي ښه خلک ور باندي خوشالیږي بدکاران ور باندي خپه کیږي.

# لېوه او سپی

يو سړي يو قوي او چاغ سپی درلود . د دې لپاره چي له يوې خوا يې سپی خوړئ شي او له بلي خوا د ورځي څوک و نه داړي نو هغه به يې په پنډه او کلک پړي يا ځنځير په يوه ځای کښي و تاړه .

يوه ورځ پر سپي باندي يو لېوه چي د ډېر ډنګروالي يې د بدن هډوکي ښکارېده راغئ او ورته و يې ويل :" ملګريه ! ډېر وږئ يم . په شپو او حتا په هفتو څه شی نه شم موندلای . ژوند مي ډېر تريخ دئ . له ډېر ډنګروالي مي هډوکي له ليري ښکاري . نه پوهېږم چي څه چاره و کړم او څېرته ولاړ شم"؟

سپي ورته وويل :" چاره يې ډېره اسانه ده . راځه زما په شان وظيفه و نيسه".

لېوه ورته وويل :" ستا وظيفه څه شی ده"؟ سپي وويل : "زما وظيفه دا ده چي د څښتن کور مي ساتم تر څو غله ور ته را نه شي . نو زما څښتن د دې کار په سبب ښه ښه خواړه او ښې ښې غوښې را کوي". لېوه وويل : "دا خو ډېر ساده او اسانه کار دئ .

نو هيله کوم چي داسي وظيفه ماته هم پيدا کړې". د خبرو په ترخ کي نا څاپه د لېوه سترګي پر يوه ټپ و لګېدې چي د سپي په غاړه کي يې و ليدئ. نو له سپي څخه يې د هغه ټپ په باره کي پوښتنه وکړه.

سپي وويل:" دا د ځنځير او پړي ټپ دئ. ځکه خاوند مي د ورځي له خوا په ځنځير يا پړي تړي تر څو خلک و نه داړم او د شپې له خوا مي خوشي کوي چي د کور پاملرنه و کړم".

لېوه ورته وويل:" د اسارت او مريتوب ژوند مي خوښ نه دئ او نه غواړم چي په داسي ذلت او بند کي ژوند وکړم. ځکه د ازادۍ ژوند ډېر خوندور ژوند دئ. که څه هم انسان پکښي په لوږه اخته وي".

## د انسان کمال

يوه ښکاري په يوه ځنګله کي يوه کوتره وليده، ټک يې پر وکئ. دا کوتره زخمي سوه، والوته راغله د زمري و مخ ته ولوېده.

زمري وويل :" څه کوې"؟

کوتري وويل : "د انسان د لاسه، ما بې سببه په توپک ولي".

يو ساعت وروسته يوه ډله د ځنګله د ځناورانو څخه لکه پړانګ، ګيدړه، سرکوزی، چغال، شرمښ، بيزو، شکوڼ، کوږ، او نور، زمري ته په عرض راغلل.

زمري وويل : "خير څه در سوي دي، ستاسي راتګ د څه د پاره دئ"؟

ټولو ناري کړې،" د انسان د لاسه، هره ورځ يې توپک راپسې اخيستئ وي، په توپک مو ولي ډېر په عذاب يو".

پدې وخت کي ګيدړه پر را دمخه سوه ويې ويل ."زمورږ پياوړې مشره! ما چي مړه کي بيا نو پوست هم را څخه وکاږي".

زمري وويل : "دا انسان څنګه شی دئ چي داسي پياوړئ دئ"؟

ځناورانو ور ته وويل :"داسي جګ نری پر دوو پښو ولاړ په کالو پټ ژوندی شی دئ".

زمري وويل:"عجبه ده ددې يوه انسان څخه ټول په عذاب ياست اوس به يې زه کار وروکم".

ټول را رهي سول او ښکاري ته راغلل. زمري وويل "ځوک يې او دلته څه کار لرې"؟

ښکاري وويل :"زه انسان يم، دلته په لرګو پسې راغلئ يم".

زمری : "لرګي څه کوې"؟

ښکاري :" زه ترکاڼ يم د لرګو څخه ښې ښې خوني جوړوم".

زمري د ځانه سره فکر وکئ چي انسان خو وژلای سم، نو لومړی به ځان ته يوه خونه په جوړه کم، بيا به يې په ارامه مړکم.

زمری:"ښه، ته چي ترکاڼ يې ماته به يوه د لرګو خونه جوړه کړې"؟

ښکاري:"خدای دي تا ژوندی لري، پر سترګو! مګر درې ورځي وروسته".

هغه وو چي ښکاري ښار ته راغئ، ډيري اوسپني او د ترکاڼۍ سامان (اسباب ) لکه ترښځ ، رنده، برمه ، اره، سکنه او نور يې يو ځای کړل بيرته ځنګله ته راغئ او په کار يې شروع وکړه . ډېر کلک او ښکلئ کپس يې د اوسپنو او لرګو څخه جوړ کئ . زمري ته يې وويل :" دادئ صاحبه! يوه ښه خونه مي درته جوړه کړه ته په ننوزه چي خوښه دي ده که يه"؟

د زمري تندی ډېر وغوړېدئ نو په تلوار ورننوت . ښکاري دستي د کپس ور پسي پوري کئ، غټ قفل ( کولپ ) يې ورواچاوه . زمري چي هرڅه وکړل خو دلاسه يې هيڅ پوره نه سوه .

ګيدړي ورته وويل :" څنګه تا خو ويل چي انسان څه شی دئ د انسان زور دي وليدئ"؟

پړانګ، شرمښ، شکوڼ او کوړ چي دا حال وليدئ نو يې د انسان زور ومانه او په تلوار د ځنګله څخه ولاړل .

## مېږه او لېوه

يوه توره مېږه وه، يوه ورځ يې سر کښته اچولئ وو په خپل ځړ لګيا وه. کله چي يې سر را پورته کړ ګوري چي له رمې او شپانه څخه ډېره ليري پاته سوې ده. په دغه وخت کي يو وږئ لېوه د مېږي خوا ته را روان دئ او سترګي يې داسي ښکاره کېدلې لکه د سرو وينو ډک جامونه، د لېوه په ليدلو سره مېږي وويل: "ښه ښه سلام عليکم"، لېوه خپل غاښونه وچيچل، په ډېر غرور يې وويل: "سلام"، خپلي خبري يې داسي پيل کړې:

"دلته څه کوې؟ خبره نه يې چي دغه ملک يا سيمه ماته د نيکه څخه په ميراث کي را پاته ده؟دا چي ته دلته بې پوښتني راغلې يې نو زه به دي هم وخورم".

مېږه پوه سوه چي له سختي ستونزي يا مرګ سره مخ سوه نو خيال او فکر يې وکړ چي داسي څه وکړي چي له مرګ څخه ځان و ژغوري. تر ډېر غور وروسته يې لېوه ته وويل:

"رښتيا خبره داده چي زما باور نه راځي چي دغه سيمه به تا ته د خپل نيکه څخه په ميراث در پاته سوې وي. د دې د پاره چي زما باور راسي نو ښه به دا وي چي له ما سره زيارت ته ولاړ سې. کله چي دې پر زيارت لاس کښېښود او قسم دې و کړ نو خبره به سپينه سي چي دغه سيمه ستاسو ده ياني په زيارت به لوړه وکړې".

لېوه ګومان وکړ چې مېږ خو ډېره ناپوهه ده نو پرېکړه یې وکړه چې څه ور سره ولاړ به سم بیا به یې تر هغه وروسته وخورم. دواړه د زیارت پر لور روان سول، لېوه او مېږ هغه ځای ته و رسېدل چې هلته د رمې سپی ویده وو.

مېږې لېوه ته وویل:" لېوه وروره! زیارت دلته دئ، اوس نو کولای سې چې لوړه وکړې چې دغه سیمه ستا د نیکه ده". کله چې لېوه لاس پر ونه کښېښود چې قسم وکړي، نو سمدستي سپی د خوبه راویښ سو، ورو ورو لېوه ته ور نیژدې سو غوټه یې باندي ووهله لېوه یې تر ستوني ونیوئ او مېږه د مرګ څخه و ژغورل سوه.

## سپی او کوتی

یوه سړي يو سپی او يو کوتی (د خره بچی) درلود. سپی پر سړي ډېر ګران وو. ځکه هره ورځ به يې ورسره ساتيري کوله، کله به يې پښې د سړي پر لاسو او يا سينه باندي ور کښېښودې.

د کوتي پر سپي حسد راغئ او له ځانه سره يې و ويل: چي بايد زه هم له دې وروسته زيار و باسم تر څو پر خاوند باندي ګران شم. نو بله ورځ يې د سپي په شان ور منډي کړې، او پښې يې د څښتن پر اوږو کښېښودې. خاوند يې ډېر په غصه شو، لرګی يې را واخيست، کوتی يې زيات وواهه او ورته ويې ويل: "ای احمقه! کوم کارونه چي له سپي سره ښه ښکاري هغه له تا سره ښه نه ښکاري. نو ته په خپل خدای در کړي استعداد قانع شه او هغه کارونه وکړه چي له تا سره ښه برېښي او د کولو توان يې ولرې او هيڅکله په هغو کارو خپل ځان مه مکلف کوه چي له تا سره ښه نه بريښي او نه يې کولای شې".

## د دروا‌غو دعوه

د یوه سړي څخه د څلورو سوو روپیو یوه همیانۍ ورکه سوه، ډېره یې و لټوله خو پیدا یې نه کړه.

اعلان یې و کړ چي که دده همیاني چا پیدا کړه او را یې وړه، دوه سوه روپۍ به انعام ور کړي.

همیاني یوه غریب بزګر و مونده او ورته را یې وړه. کله چي یې انعام غُني و غوښته، سړي خوله پر را خلاصه کړه او دعوه یې پرې وکړه چي د ده په همیاني کي دوې مرغلري هم وې، "هغه څه شوې"؟

بزګر وویل: "ما خو مرغلري نه دي لیدلي، دغه همیاني چي مي څنګه موندلې ده، هغسي مي راوړې ده".

د همیانۍ خاوند وویل: "ځه ته د انعام وړ نه یې، ځکه تا مرغلري پټې کړي دي او غله ته انعام نه سي ور کول کېدلای".

بزګر پوه شو چي سړي دوو سوو روپیو ته خبره جوړه کړې ده او پدې چل را نه پیسې خوري، نو ژر قاضي ته ولاړ.

قاضي د همیانۍ څښتن را وغوښت او ور ته ویې ویل : "ته په څه وایې چې ستا په همیاني کښې دوې مرغلري هم وې"؟

سړي وویل : "هو قاضي صاحب دوې سوچه مرغلري هم په کې وې، هغه دي راکړي، چې انعام ور کړم".

قاضي بزګر ته مخ ور واړاوه او ویې ویل : "هلکه پدې همیاني کي دوې مرغلري پرتې وې"؟

هغه وویل :" قاضي صاحب زه قسم خورم چي تر څلور سوه روپیو پرته نور هیڅ شی هم نه وو".

قاضي د همیانۍ څښتن ته وویل : "ته وایې چي مرغلري پکښې وې او دی قسم خوري چي نه وې پکښې. نو معلومه سوه چي ستا همیاني دا نه ده. دا د کوم بل چا ښخه لوېدلې ده، دا دبزګر سوه او چي ستا همیاني څه وخت پیدا سوه نو در و به سپارل سي ".

## لېوه او پسه

یوه ورځ یو پسه په یوه چمن کې په څړ بوخت وو چې نابېره یو وږی لېوه ور باندې راغئ، پسه چې لېوه و لیدئ په منډه یې پیل وکړ او لېوه (شرمښ) هم ور پسې و ځغاست. پسه پسله څه ځغستا څخه ستړئ سو او و پوهېدئ چې د لېوه څخه نه سي خلاصېدای. ځکه نو ودرېدئ او مخ یې و لېوه ته راواړاوه او ورته ویې ویل: "زه پوهېږم چې ته ما خورې او پوهېږم چې زه ستا څخه نه سم خلاصېدای. دغه دئ خپل ځان و تا ته په ډېر احترام تسلیموم. مګر زه یوه غوښتنه لرم، هغه دا چې د مخه تر دې چې زه مړ سم غواړم چې ستا په مخ کې نڅا وکړم او ته اواز راته و کړې او دا کار به ستا په ژوند کې یوه خاطره وي". لېوه په ډېره خوښي د پسه غوښتنه ومنله او په اواز کښلو یې پیل وکړ، پسه په نڅا پیل وکړ. د لېوه اواز د کلي شاوخوا سپیو واورېدئ او په ځغاسته راغله. د سپیو په رارسېدو سره لېوه ځان په خطر کې و لیدئ، و تښتېدئ او پسه یې د خولې ووتئ.

لېوه پدې پېښه ډېر خواشینی سو او و یې ویل: "ما د ځان څخه سازنده جوړ کئ حال دا چې زه باید قصاب وای".

## ګیدړه او بزه (وزه)

یوه ګیدړه چي ډېره تږې سوې وه ، شا و خوا ګرزېده تر څو یو غوړېپ اوبه پیدا کړي او و یې چښي. هغه وو چي پر یوه څا پېښنه سوه. نابېره یې پښه و ښویده او په څا کي و لوېده. هر څومره چي یې کوښښ و کړ و یې نه سوای کړای چي د څا څخه را ووزي نو نا چاره سوه چي هلته پاته سي.

پدې وخت کي یوه تږې بزه (وزه) هم دې څا ته راغله. که ګوري چي په څا کي یوه ګیدړه ده. بزې (وزې) د ګیدړي څخه پوښتنه و کړه: " اې ملګري ! د دې څا اوبه خوږې دي که تروې "؟

ګیدړي جواب ور کړ: " ګراني ملګري! داسي خوږې اوبه دي چي په ژوند کي مي نه دي چښلي ، را کښته سه او د دې څا اوبه و چښه".

کله چي بزې د ګیدړي دا خبره واورېده نو دا هم څا ته ور کښته سوه. ګیدړه چي ډېره چالاکه وه نو ژر یې د بزې پر اوږو پښې کښېښودې او د څا څخه یې ځان را و ایست او بزه یې په څا کي پرېښوده.

بزې چي هر څومره کوښښ و کړ چي د ځا ځخه را ووزي بریالی نه سوه نو یې د ګیدړي ځخه مرسته و غوښته او ورته و یې ویل: "ګراني ملګري! ما چي ستا سره مرسته و کړه او ته مي د ځا ځخه را و ایستې نو اوس ته هم زما سره مرسته‌و کړه".

ګیدړي ورته و ویل: " تا خو زما سره هیڅ مرسته نه ده کړې، دا خو زما ښه فکر وو چي زه یې د دې ځا ځخه را و ایستم". بزه هم ناچاره سوه او په ځا کي پاته سوه.

## زوړ سپی

یوه سړي یو ډېر وفا داره او چالاکه سپی درلو. سپي ډېر کلونه په ډېره وفا داري او رښتیا سره د خپل څښتن سره هم په ښکار او هم د کور په ساتلو کي خدمتونه کړي وه. سپی د وخت په تېرېدو سره ډېر کمزوریٔ سویٔ وو او غاښونه یې لوېدلي وه.

یوه ورځ چي څښتن په ښکار پسې وتیٔ نو سپی یې هم د ځانه سره و ایست. تر لږ ګرزېدو وروسته یې یوه هوسۍ و لیده. سپي په هوسۍ پسې په ډېره تیزي و ځغستل، هوسۍ یې و نیول خوځرنګه چي هوسۍ ډېره زوره وره وه او سپی ډېر کمزوریٔ نو هوسۍ ور څخه ولاړه.

ښکاري پدې پېښه ډېر خواشینی سو نو یې د سپي په وهلو شروع و کړه او سپی یې ډېر کلک و واهه. سپي د وهلو په وخت کي خپل څښتن ته وویل: " ما مه وهه، زه اوس زوړ یم او غاښونه مي هم لوېدلي دي. ما په خپل ټول ژوند کي ستا سره هم د کور په ساتلو او هم په ښکار کي ډېر ښه خدمتونه کړي دي.

څښتن د دې خبري په اورېدلو سره سپی د ژوند تر پایه پوري ښه ساتیٔ او خواړه یې ور کول.

## نوکر او آس

یو سوداګر د خپل نوکر سره په سفر رهي سو. سودا ګر د ځانه سره خپل آس هم رهي کړ. پسله څه سفره کوولو څخه د شپې د تېرېدو د پاره په یوه کلي کي پاته سوه. پدې وخت کي یوه سړي ورته و ویل: " پدې کلي کي خورا ډېر غله دي، نه چي آس مو در څخه غلا کړي. سوداګر چي دا خبره واورېده نو یې نوکر ته وویل: " نن شپه به ته بیده سې او زه به پیره کوم چي آس څوک غلا نه کړي. نوکر ورته و ویل: "دا ښه کار نه دئ چي نوکر بیده وي او بادار پیره کوي، ته بیده سه او زه به پیره کوم.

پسله څو ساعتو خوب کولو څخه سوداګر را ویښ سو او د نوکر څخه یې پوښتنه و کړه: " په څه شي کي فکر کوې" ؟

نوکر جواب ور کړ: "پدې کي فکر کوم چي خدای (ج) مځکه څرنګه پیدا کړې ده". سوداګر ورته وویل: "دا فکر مه کوه، نه چي آس غله بو نه زي". نوکر ور ته وویل: "زه پر آس پیره کوم. ته بې غمه بیده سه".

پسله څه مودې څخه بیا سوداګر را ویښ سو او د نوکر څخه یې پوښتنه وکړه: " په څه شي کي فکر کوې"؟

نوکر جواب ور کړ : " پدې کې فکر کوم چې خدای (ج) اسمان څرنګه بې پايو (ستونونه) پيدا کړئ دئ".

سوداګر ورته‌و ويل: " پدې خبرو کې فکر مه کوه نه چې آس غله در څخه بو نه زي".

نوکر ورته و ويل:" ته ببغمه ارام و کړه، زه پر آس پيره کوم".

د دې ځلې چې سوداګر بيا را ويښ سو د نوکر څخه يې پوښتنه وکړه : " په څه شي کې فکر کوې "؟ نوکر جواب ور کړ: " پدې کې فکر کوم چې د آس ځين به ته واخلې او که زه ، ځکه آس غلو ببولئ دئ او ځين يې پر ايښئ دئ ".

# زده کوونکي دي د لاندي رسمونو په باره کي چي څه ليکلای سي و ليکي!

# ١



## ٢



٣



## ٤

١



٢



٣



٤



# ٥



# ٦

١



٢



٣



٤



# Undervisnings material

# i pashto för elever i

# årskurs 5

Utarbetat av: Ali Rasulzada, modersmålslärare i pashto

2009-08-01